# نوې ښاري اجنډا

# نوې ښاري اجنډا

HABITAT III
QUITO 17-20 OCTOBER 2016
United Nations Conference on Housing and Sustainable Urban Development

United Nations

© ۲۰۱۷ ملګري ملتونه

A/RES/71/256*
نوې ښاري اجنډا
پښتو
۲۰۱۷
ISBN: 978-92-1-132731-1

نوې ښاري اجنډا د ملګرو ملتونو د کورجوړونې او دوام لرونکې ښاري پراختیا په کنفرانس (هبیتات) کې، چې د ۲۰۱٦ میلادي کال د اکتوبر پر ۲۰مې نېټې د اکواډور په کیوټو ښار کې ترسره شو، تصویب شوه. دغه اجنډا د ۲۰۱٦ میلادي کال د دیسامبر پر ۲۳مه نېټه، د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلۍ لهخوا هم د ۷۱مې ناستې په ٦۸مه عمومي غونډه کې تصدیق شوه.

دا خپرونه د چاپولو له حق سره تړاو نه لري، او که له ملګرو ملتونو څخه یادونه وشي نو په آزاده توګه بیا تولیدېدلای شي.

د دغې خپرونې د برېښنایي بڼې په ګډون د هبیتات (۳) کنفرانس او د دغه کنفرانس د چمتو کولو پروسې نور سندونه هم د هبیتات (۳) له ویبپاڼې ښکته کولای شئ: www.habitat3.org

دا د ملګرو ملتونو خپرونه ده، چې د هبیتات ۳ سکرتریت لهخوا خپره شوې.

په افغانستان کې د UN-Habitat دفتر له همکارۍ څخه مننډوی یو، چې له امله یې د نوې ښاري اجنډا پښتو ژباړه ممکنه شوه.

پښتې: د پراګ ښار طرحه

د دغې خپرونې چاپ د اکواډور جمهوریت د حکومت په ملاتړ ترسره شو.

# مقدمه

## مقدمــه

نــوې ښــاري اجنــډا د یــو داســې ښــه او دوام‌لرونکــې راتلونکــې لپــاره یــو ګــډ لیــد وړانــدې کــوي، چــې ټــول پکــې برابــر حقونــه ولــري او ټــول د ښــارونو فرصتونــو او چانســونو تــه لاسرســی ولــري، او نړېوالــه ټولنــه هــم د دغــه حالــت د ترلاســه کولــو لپــاره د ښــاري سیســتمونو او د ښــارونو فضایــې فزیکــې بڼــو تــه بیــا کتنــه وکــړي. د ښــاري پراختیــا پــه دې بــې ســاري وخــت کــې، او د ۲۰۳۰ میــلادي کال د دوام‌لرونکــې پرمختیایــې اجنــډا پــه ضمــن کــې، د پاریــس تــړون، او د نــورو نړېوالــو پرمختیایــې موافقتنامــو او چوکاټونــو دننــه، مــوږ یــو اساســي ټکــی درک کــړی، چــې اوســمهال زمــوږ نــړۍ لــه کومــو ننګونــو سره مــخ ده، ښــارونه د دغــو ننګونــو د عواملــو پــر ځــای د حــل سرچینــې دي. کــه چیــرې ښــاري پراختیــا پــه ســمه توګــه پــلان او مدیریــت شي، نــو دا بــه د دواړو پرمختللــو او پرمخ‌تلونکــو هېوادونــو د دوامــداره پرمختــګ لپــاره یــوه پیــاوړې وســیله شي.

نــوې ښــاري اجنــډا د ښــارونو د علــم پــر اســاس یــو انقــلابي بدلــون وړانــدې کــوي؛ دغــه اجنــډا د ښــارونو د پلان‌جوړونــې، ودانولــو، پرمختــګ، مدیریــت کولــو، او د ښــاري ســیمو د ښــه والي پــه تــړاو مقــررات او ســتندردونه طــرح کــوي، چــې د دغــې اجنــډا د پــلي کولــو لــه پنځــو مهمــو ســتنو سره همغــږې دي. دغــه پنځــه مهمــې ســتنې عبــارت دي لــه: مــلي ښــاري پالیســي، ښــاري قوانیــن او مقــررات، ښــاري پلان‌جوړونــه او ډیزایــن، محــلي اقتصــاد او د ښــاروالۍ مالیــات، او پــه محــلي کچــه پــلي کــول. دا د هــرې کچــې حکومتولــۍ لپــاره یــوه وســیله ده، لــه مــلي حکومــت څخــه تــر محــلي حکومتــه، د مــدني ټولنــو د ســازمانونو لپــاره، خصوصــي ســکتور، انتخابوونکــو ډلــو، او د ټولــو هغــو لپــاره چــې د نــړۍ ښــاري فضــا خپــل کــور ګڼــي.
نــوې ښــاري اجنــډا د ښــې ښــاري پراختیــا او پرمختــګ ترمنــځ د تــړاو یــوه نــوې اړیکــه پېــژني. دغــه اجنــډا د ښــې ښــاري پراختیــا او کاري فرصتونــو د زېږولــو، د ژوندانــه فرصتونــو، او د ژونــد د کچــې ښــه کولــو ترمنــځ پــر اړیکــو ټینــګار کــوي، او څــه چــې بایــد پــه هــرو نویــو ښــاري پالیســیو او ســتراتیژیو کــې ګــډ شي. دا د نــوې ښــاري اجنــډا او د ۲۰۳۰ میــلادي کال د دوام‌لرونکــې پرمختیایــې موخــو، پــه تېــره بیــا ۱۱مــه موخــه چــې د دوام‌لرونکــو ښــارونو او ټولنــو سره تــړاو لــري، ترمنــځ پــر اړیکــو تاکیــد کــوي.

غــړي هېوادونــه؛ بیــن الحکومتــي ســازمانونه؛ یو-ایــن هبیتــات او د ملګــرو ملتونــو لــه ۴۰ څخــه زیــات ســازمانونه، فنــډ، او پروګرامونــه؛ د پالیســۍ واحــد ۲۰۰ کارپوهــان او ۲۰ ســازمانونه؛ د ملګــرو د عمومــي اســامبلۍ ۱۶ ملګــري ټاکنیــزې ډلــې؛ پــه زرګونــه محــلي حکومتونــه او د محــلي او ســیمه‌ییزو ملتونــو ټولــې ارزښــتناکې شــبکې، چــې د محــلي او ســیمه‌ییزو حکومتونــو لــه نړیــوال کاري ځــواک سره همغــږې دي؛ ۱۹۷ ګــډون کوونکــې دولتونــه؛ لــه ۱۱۰۰ څخــه زیــات ســازمانونه؛ او لــه ۵۸زرو څخــه زیاتــې شــبکې د نــوې ښــاري اجنــډا پــه چمتــو کولــو کــې ښــکېلې وې. د دغــو کارپوهانــو او شریکانــو نظرونــو د دغــه ســند د لومــړۍ مســودې پــه چمتــو کولــو کــې مهــم رول ولوبــاوه، او لــه غــړو هېوادونــو، محــلي حکومتونــو او شریکانــو سره پــه دې تــړاو پــه نارســمي ناســتو کــې نظریــات تبادلــه شــول. لــه کنفرانــس څخــه مخکــې، پــه ټولــو بیــن الحکومتــي مذاکراتــو کــې د ټولــو نظریــات پــه پــام کــې ونیــول شــول، او لــه املــه یــې نــوې ښــاري اجنــډا بــې لــه کــوم شرطــه تصویــب شــوه.

د ونــډه اخیســتنې دغــه تــګلاره د اکــواډور پــه ښــار کویټــو کــې د هبیتــات ۳ کنفرانــس کــې هــم پــلي شــو، چــې اوســمهال دغــه کنفرانــس پــه پراخــه کچــه د ملګــرو ملتونــو یــو لــه تــر ټولــو جامعــو او نوښــتګرو کنفرانســونو بلــل کېــږي. د بیــن الحکومتــي ناســتو او د لــوړو ګــردي مېزونــو پــه څنــډو کــې یــو شــمېر غونــډې هــم وشــوې، چــې ټاکنیــزو ډلــو تــه یــې د ونــډې اخیســتلو ځــای ورکــړ. دغــه راز د ټــول کنفرانــس پرمهــال

د شریکانو ګردي مېزونو، ځانګړو ناستو، ډیالوګونو، او د یو شمېر سازمانونو لهخوا تنظیم شوو ناستو هم تاکنیزو ډلو ته د نظر څرګندولو فرصت ورکړ. یو یو-این، چې د ملګرو ملتونو د بېلابېلو سازمانونو ترمنځ همکاري زیاتوي، د هبیتات ۳ کنفرانس نندارتون، چې د خپلواکو سازمانونو نوښتونه په نښه کوي، او د هبیتات ۳ کلی، چې د ریښتینې مداخلو له لارې په محلي کچه ښاري حلونو ته وده ورکوي؛ دې ونډه اخیستنه نوره هم زیاته کړه او د دوام‌لرونکې پرمختیا د اصولونو، پالیسیو، او کړنلارو پر پلي کولو یې تمرکز وکړ.
د هبیتات ۳ کنفرانس او د کیوټو ښار له ۱٦۷ هېوادونو او ۳۰ زرو ګډونوالو څخه هرکلی وکړ. دغه راز دغه کنفرانس د پر لیکه (انلاین) پلیتفورمونو او وسیلو له لارې په ټوله نړۍ کې په پرلیکه بڼه تعقیب شو. دا په تاریخي توګه د ټول‌شمولتیا له اصول څخه پوهیدنه وه، چې په ټولو پیلونو کې د جنډر او سیمې برابروالي ترڅنګ د محلي رهبرانو، د ګڼ‌نفوسه او وروسته‌پاتې سیمو اوسیدونکو، د محلي او سیمه‌ییزو حکومتونو دویمه نړېواله اسامبلي، او د بېلابېلو شریکانو ښکېلتیا وه، ځکه ټول د دغه ګډ لید په پلي کولو کې مهم رول لري.

ویاړم چې د دغه کنفرانس سرمنشي وم. غواړم د اکواډور له جمهوریت څخه د دوی د میلمه‌پالنې او د هبیتات ۳ کنفرانس د کوربه‌توب له کبله مننه وکړم او ورته په دغه کار مبارکي وایم. دغه راز د دغه کنفرانس د چمتووالي کمیټې له غړو؛ د نوې ښاري اجنډا د نارسمي بین الحکومتي مذاکراتو اسانچارو؛ او رسمي پلاوو، چې په دغو مذاکراتو کې یې ونډه واخیسته؛ له حکومتونو او ښارونو څخه چې د هبیتات ۳ سیمه‌ییز او مضموني ناستو او د چمتو کولو کمیټې د ناستو کوربه‌توب یې وکړ؛ د پالیسۍ د واحد له لاربښودانو او غړو، د هبیتات ۳ کنفرانس لپاره د ملګرو ملتونو له کاري ځواک، د شریکانو له عمومي اسامبلۍ، د محلي او سیمه‌ییزو حکومتونو له نړېوال کاري ځواک، او نورو سازمانونو چې د مذاکراتو ناظرین وو او د نوې ښاري اجنډا د یو شمېر مسودو په چمتو کولو کې یې ونډه واخیسته، څخه مننه کوم.

د دې ترڅنګ زه له ټولو هغو کارمندانو څخه هم مننه کوم، چې په خپلو نه ستومانه کېدونکو هڅو یې د زرګونو خلکو غړونه او تخصص د دغو پاڼو برخې وګرځولې.
د ښاري پراختیا او د دوام‌لرونکې ښاري پرمختیا د ښه کولو لپاره موږ کومه ځانګړې نسخه نه لرو، خو نوې ښاري اجنډا یو شمېر اصولونه او ازمېښت شوي چلندونه وړاندې کوي، ترڅو دغه لید پر واقعیت وګرځوي. دا به د خبرولو ترڅنګ د نړۍ پربکړه‌کوونکي او ښاري اوسیدونکي وهڅوي، چې د ګډ ښاري راتلونکي په تړاو مسؤلیت واخلي: یوه تګلاره، قانون، پلان، ډیزاین او یا هم په یو وخت پروژه. د انساني تاریخ په دې حساس پړاو کې، د پلان شوي کار په تړاو بیا فکر کول، جوړول او مدیریت کول انتخاب نه دی بلکې یوه اړتیا ده. د دغه لید پر حقیقت بدلولو لپاره زموږ کار سر له اوسه پیلېږي.



**ډاکټر جان کلاس**
د ملګرو ملتونو د کورجوړونې او دوام لرونکې ښاري پراختیا کنفرانس
(هبیتات ۳) سرمنشي

# لړلیک


مقدمه ........ III
نوې ښارې اجنډا ........ ۱
د ټولو لپاره د پایېدونکو ښارونو او بشري هستوګنې په تړاو د کیوټو اعلامیه ........ ۲
د نوې ښارې اجنډا لپاره د کویټو د پلې کولو پلان ........ ۱۰
منڼه او کورودانی ........ ٤٣

# نوې ښاري اجنډا

# د ټولو لپاره
# د پايېدونکو ښارونو
# او بشري هستوګنې
# په هکله د کويټو
# اعلاميه

۱. مونږ د دولتونو او حکومتونو مشرانو، وزیرانو او لوړپوړو استازو د ملګرو ملتونو د کورجوړونې او دوام لرونکې ښاري پراختیا په کنفرانس (هبیتات۳) کې، چې د ۲۰۱٦ میلادي کال د اکتوبر له ۱۷مې نه تر ۲۰مې‌پورې په کویتو کې د اجندا د تصویب په موخه جوړ شوی و، ګډون وکړ. په دې کنفرانس کې د سیمهییزو حکومتونو استازو، پارلماني غړو، مدني ټولنو، ځایي وګړو او ځایي ټولنو، خصوصي سکتور، مسلکي او حرفه‌یي کسانو، علمي او اکاډمیکو ټولنو او د نورو اړوندو کسانو استازو هم ګډون کړی وو.

۲. تمه کېږي، چې تر ۲۰۵۰ میلادي کاله به د نړۍ ښاري نفوس کابو دوه چنده شي، چې له امله به یې ښاري مېشتېدنه د یوویشتمې پېړۍ یو له تر ټولو سترو بدلېدونکو بهیرونو وګڼل شي. نفوس، اقتصادي چارې، ټولنیز او فرهنګي تعاملات؛ او همدا راز چاپېریالي او بشري اغیزې به زیاتېدونکې لرې کول او پرځای یې په ډېری توګه پر ښارونو متمرکزې وي چې دا چاره به بیا پر پورتنیو مواردو سر بېره د کورجوړونې، زیربناوو، بنسټیزو خدمتونو، د خوړو خوندیتوب (أمنیت)، روغتیا، ښوونې او روزنې، پتمنو دندو، خوندیتوب او د طبیعي سرچینو له اړخه سترې پاېیدونکې ننګونې رامنځ ته کړي.

۳. د کاناډا په وانکوور ښار کې د ملګرو ملتونو د بشر هستوګنې د ۱۹۷٦ میلادي کال کنفرانس؛ په ۱۹۹٦ میلادي کال د تُرکیې د استانبول ښار کنفرانس، او په ۲۰۰۰ میلادي کال د زریزې پرمختیایي موخو کنفرانس له تصویبه را په دې خوا، د ملیونونو ښارمېشتو وګړو، او د بېوزله سیمو اوسېدونکو او نارسمي هستوګنځایونو د اوسېدونکو په ژوند کې ښه والی رامنځته شوی دی. خو له دې سره سره، د بې وزلۍ د بېلابېلو ډولونو دوام، زیاتېدونکې نابرابري، او د چاپیریال اغېزمنیدل/ورانېدل په نړیواله کچه د دوام لرونکې پرمختیا په لاره کې عمده خنډونه دي. دغه راز ټولنیز او اقتصادي محرومیتونه، او سیمه ییز توپیرونه هم په ښارونو او مېشتځایونو کې د پرمختیا پر وړاندې یو څرګند حقیقت دی.

۴. مونږ لا تر اوسه هم دغه شته او راپورته کېدونکې ننګونې په بشپړ ډول نه دې هواري کړي، او اړتیا ده چې د هر اړخیزې او پایښت لرونکې ودې، ټولنیزې او کلتوري پراختیا، چاپیریال ساتنې، او د بدلون او دوام لرونکې پرمختیا په ترلاسه کولو کې د ښاري مېشتېدنې د بالقوه مشارکت له فرصتونو څخه ګټه پورته کړو.

۵. نوې ښاري اجنډا به د ښارونو او هستوګنو د سیمو د پلان جوړونې، طراحۍ، پانګونې، پراختیا، ادارې او مدیریت ته په بیا کتو سره، د بېوزلۍ او لوږې ټولو ډولونو او اړخونو په له منځه وړلو؛ د نا برابرۍ په کمولو؛ د پایښت لرونکې، هر اړخیزه او دوام لرونکې اقتصادي ودې په دودولو (ترویجلو)؛ د جنسیتي برابرۍ په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي او ټولې ښځې او نجونې به وتوانېږي، چې په دوام لرونکې وده کې بشپړه برخه واخلي؛ د وګړو روغتیا او صحت ته به پاملرنه وشي؛ د وګړو روحیه به ځواکمنه شي؛ او د ژوندانه چاپېریال به خوندي شي.

۶. موږ د ۲۰۱۵ میلادي کال عمده لاسته راوړنې په بشپړه توګه په پام کې نیسو، په تېره بیا د دوام لرونکو پرمختیایي موخو په ګډون په ادیس ابابا کې د پرمختیا د تمویلولو د درېیم نړیوال کنفرانس د عمل اجندا[1]، د ملګرو ملتونو د اقلیمي[2] بدلون د کنوانسیون چوکاټ[3] تر چتر لاندې منل شوی د پاریس تړون، د ناورین د زیان کمولو په اړه د سینډای چوکاټ ۲۰۱۵-۲۰۳۰، د پرمختلونکو وچبندو [ یا وچو پورې تړل شوو] هېوادونو په تړاو د ۲۰۱۴- ۲۰۲۴[4] لسیزې د ویانا د چلند برنامې، د سېډز د چټکو چلندونو د لارو ستراتیژی[5]، او د ۲۰۲۰-۲۰۱۱ [6] لسیزې په تړاو د لږو پرمختللو هېوادونو په باره کې د استانبول د چلند برنامې په ګډون د ۲۰۳۰ میلادي کال د دوام لرونکې پرمختیا اجندا[7] ته بشپړ پام کوو. دغه راز، موږ د چاپیریال او پرمختیا[8] په باره کې د ریو اعلامیه، د دوام لرونکې پرمختیا نړیواله ناسته، د ټولنیزې پرمختیا نړیواله ناسته، د نفوسو او پرمختیا د نړیوال کنفرانس[9] د عمل برنامه، د بیجینګ د عمل پلتفورم، د ملګرو ملتونو د دوام لرونکې پرمختیا کنفرانس او د نوموړو کنفرانسونو تعقیب هم په پام کې لرو.

۷. دا چې موږ ومنله چې دغو کنفرانسونو کومه بین الحکومتي لاسته راوړنه نه درلوده، موږ به د ۲۰۱۶ میلادي کال د می په میاشت کې په استانبول کې د ملګرو ملتونو نړیواله بشري ناسته په نظر کې ونیسو.

۸. موږ د نوې ښاري اجنډا په جوړولو کې د دولتونو ترڅنګ د سیمه‌ییزو او محلي حکومتونو له ګډون څخه ستاینه کوو او د محلي او سیمه‌ییزو حکومتونو دویمه نړیواله غونډه هم په پام کې نیسو.

۹. نوې ښاري اجنډا د دوام لرونکې ښاري پراختیا په تړاو د یوه حساس ګام په توګه زموږ پر هغې نړیوالې ژمنې بیا تاکید کوي، چې له مخې یې د ټولو اړوندو لوبغاړو په ګډون په نړیواله، سیمه‌ییزه، ملي، سیمه‌ییزه او محلي کچه همغږي، بشپړه او متداومه پرمختیا رامنځته شي. د نوې ښاري اجنډا پلي کول به په بشپړه توګه د ۲۰۳۰ میلادي کال د دوامداره پرمختیایي اجنډا په تطبیق او محلي کولو کې ګټور پرېوځي او دغه راز به دوامداره پرمختیایي موخو ته په رسېدو (د ۱۱ موخې په ګډون: «د ښارونو او د هستوګنځایونو هراړخیز، خوندي، ټینګ او پایښتونکي کول») کې مرسته وکړي.

۱۰. نوې ښاري اجنډا، فرهنګ او د فرهنګونو تنوع د بشر د شتمنۍ سرچینې ګڼي او د ښارونو، بشر مېشتېدنې، او د وګړو په متداومه وده کې مهمه برخه لري او هغوی ته ځواک ورکوي چې په پرمختیایي نوښتونو کې خپل فعال او ځانګړی رول ولوبوي. نوې ښاري اجنډا دا هم تاییدوي، چې فرهنګ دې د مصرف او تولید د نوې تلپاتې نمونو په دودولو او پلي کولو کې مسؤل وګرځول شي، ترڅو له وسایلو په سمه توګه ګټه پورته شي او د اقلیمي بدلونونو ناوړو اغېزو ته هم ځواب ووایي.

---

[1] ۳۱۳/۶۹ پرېکړه لیک، ضیمه

[2] Add/۱۰/۲۰۱۵/FCCC/CF ۱ پرېکړه /CP۲۱، ضمیمه وګورئ

[3] ۶۹/۲۸۳ پرېکړه لیک، ۲ ضمیمه

[4] ۶۹/۱۳۷ پریکړه لیک، ۲ ضمیمه

[5] ۶۹/۱۵ پرېکړه لیک =، ضمیمه

[6] د کمو پرمختللو هېوادونو په اړه د ملګرو ملتونو رپوټ، استانبول، ترکیه، د ۲۰۱۱ ز کال د مۍ له ۹ - ۱۳ (۷/۲۱۹.A/CONF) ۲ څپرکی

[7] ۷۰/۱ پرېکړه لیک

[8] د چاپیریال او پرمختګ په اړه د ملګرو ملتونو رپوټ ریو دی جنیرو، ۳-۱۴ جون ۱۹۹۲ – ۱ ګڼه
د کنفرانس له خوا تصویب شوی پرېکړه لیک (د ملګرو ملتونو وګړي (نفوس)، د پېر شمېره ۹۳٫۱٫۸.E او اصلاحیه)، ۱ پرېکړه لیک، ۱ ضمیمه

[9] د وګړو (نفوسو) او پرمختګ په اړه د نړیوال کانفرانس رپوټ، کایرو، د ۱۹۹۴ کال د سپټمبر له ۵ تر ۱۳ (د ملګرو ملتونو چاپ، د پېر شمېره ۱۸.XIII.۹۵.E)

## زمونږ ګډ لیدلوری

۱۱. مونږ د ټولو لپاره د ښارونو یو ګډ لیدلوری لرو چې پکې ټول وګړي له ښارونو او د هستوګنې له ځایونو څخه په مساوي توګه ګټه پورته کولای شي. هڅه شوې چې دغه لیدلوری هراړخیز واوسي او له کوم توپیر پرته د اوسنیو او راتلونکو ټولو نسلونو لپاره خوندي، روغتیایي، د لاسرسي وړ، مناسب، ټینګ او پایېدونکي ښارونه او د اوسېدو ځایونه چمتو کړي، ترڅو د ټولو ژوند هوسا او له غوره کیفیت څخه برخمن شي. زمونږ پام پر ځینو هغو مرکزي او محلي ښارونو هم شته چې دوی زیار باسي دغه «د ښار لوړحق» په نامه لیدلوری په خپلو قوانینو، سیاسي اعلامیو او منشورونو کې شامل کړي.

۱۲ زمونږ مرام د داسې ښارونو او بشر مېشتېدنو رامنځته کول دي، چې ټول وګړي پکې له یو ډول حقونو، فرصتونو؛ او همداسې د دوی بنسټیزو آزادیو د ملګرو ملتونو د منشور د موخو او اصولو سره سم او نړیوالو قوانینو ته په درنښت برخمن وي. په دې اړه نوې ښاري اجنډا د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې[۱۰]، د بشري حقونو د نړیوالو تړونونو، د زریزې اعلامیې[۱۱] او د ۲۰۰۵ میلادي[۱۲] کال نړیوالې ناستې د پایلو پر بنسټ ولاړه ده. په دې کې له نورو اسنادو لکه د پراختیا حق له اعلامیې[۱۳] څخه هم ګټه اخیستل شوې ده.

۱۳.مونږ هغه ښارونه او د هستوګنې ځایونه په پام کې لرو چې:

*(ا)* خپله ټولنیزه دنده د ځمکې د ټولنیزې او ایکالوجیکې دندې په ګډون ترسره کړي او په دې اند وي چې هر وګړی یوې داسې هستوګنې ته اړتیا لري، چې د ژوند ټول معیارونه په کې په پام کې نېول شوي وي او له کوم توپیر پرته د څښاک پاکو اوبو او حفظ الصحي اسانتیاوو ترڅنګ ټول په مساوي توګه د عامه توکو، ځایونو او معیاري خدماتو په برخو کې لکه د خوراک خوندیتوب او خوړو، روغتیا، پوهنې، زېربناوو، ټرانسپورت، انرژي، د پاکې هوا او د ژوندانه نورو برخو ته لاسرسی ولري.

*(ب)* ښارونه او ښارمېشتي سیمې مشارکتي وي، مدني مشارکت دود کړي؛ په ټولو اوسېدونکو کې د مالکیت او تړاو احساس رامنځته کړي؛ خوندي، هراړخیزو، د لاسرسي وړ شنو او داسې کیفیت لرونکو عامه ځایونو ته لومړیتوب ورکړي، چې له کورنیو سره یې چلند دوستانه وي؛ ټولنیز تعاملات او د نسلونو ترمنځ متقابل چلند، فرهنګي آزادۍ او سیاسي مشارکت ځواکمن کړي؛ او په سوله ییزو او کثرت غوښتونکو ټولنو کې پیوستون، ګډونوالي او خوندیتوب ته داسې وده ورکړي چې پکې د ټولو اوسېدونکو اړتیاوې برابرې شي او په تېره بیا د هغو کسانو ځانګړې اړتیاوې چې له زیان سره مخ دي، په پام کې ونیسي؛

*(ج)* جنسیتي برابرۍ ته پام وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې ټولې ښځې او نجونې د رهبرۍ په کچه دندې ترلاسه کړي او د پرېکړو واک ولري او له بشپړو امتیازونو څخه برخمنې شي، پتمنې دندې ترلاسه کړي، برابرې دندې او تنخواوې ولري او خصوصي او ټولنیزو ځایونو کې ورسره له توپیر، تاوتریخوالي او ازار پرته چلند وشي.

*(د)* پایېدونکې، هراړخیزې او پرله پسې اقتصادي ودې ته ژمن وي او راتلونکو ننګونو او فرصتونو ته

---

[۱۰] ۲۱۷ پریکړه، الف (۳).

[۱۱] ۲/۵۵ پریکړه.

[۱۲] ۱۲۸/۴۱ پریکړه، مله

[۱۳] ۱۲۸/۴۱ پریکړه، مله



کابل، افغانستان ©UN-Habitat

ځواب ویونکی وي؛ له ښاري هستوګنې څخه د جوړښتي بَدلَوَنې، د تولید لوړې وړتیا، د زیات شوي ارزښت د فعالیتونو او د منابعو د ګټورتوب، د محلي اقتصاد د کنټرول او د غیر رسمي اقتصاد د برخې په پام کې ساتلو او په همدې حال، رسمي اقتصاد ته د هغه د لېږد په دوامداره ملاتړ کې برخه واخلي؛

*(ه)* له اداري حدودو سره سم خپلې سیمه ییزې دندې ترسره کړي او په هره کچه کې د متوازنې، پایښت لرونکې او جامع ښاري پراختیا مرکزونو د هڅوونکي په توګه کار وکړي؛

*(و)* په داسې ښاري ترانسپورت کې پانګونه او پلان جوړونه وکړي، چې پایښت لرونکې، خوندي او ټولو ته د لاسرسي وړ وي، د عمر (سن) او جنس له اړخه حساس وي؛ او دغه راز د مسافرو او توکو لپاره اغېزمن ترانسپورتي نظام دود کړي، چې پکې خلک، ځای، توکي، خدمات او اقتصادي فرصتونه له یو بل سره غوټه شي؛

*(ز)* د ناورین د ګواښ د کمولو او مدیریت چارې ومنې، د زیان کچه راټیټه کړي، طبیعي او انساني ګواښونو پر وړاندې د ټینګار او غبرګون ښودلو تدبیرونه ولري؛ او د اقلیمي بدلونونو سره توافق وکړي او دا چارې لا پیاوړې کړي؛

*(ح)* خپل ایکو سیسټمونه، اوبه، د ژوندانه طبیعي سیمې او خپلې بیالوژیکي رنګارنګۍ وساتي، خوندي یې کړي پخواني حالت ته یې وګرځوي؛ د ژوندانه د چاپېریال ناوړې اغیزې لږې کړي او هغه په یوه پایښت لرونکي مصرف او تولید واړوي؛

## زمونږ اصول او ژمنې

۱۴. د خپل لیدلوري د ترلاسه کولو په موخه مو پریکړه کړې چې د لاندې ترل شوو اصولونو پر بنسټ نوې ښاري اجنډا غوره کړو:

*(ا)* هیڅوک دې بې برخې نه شي: د برابرو حقونو او فرصتونو، د ټولنیزې - اقتصادي او فرهنګي رنګارنګۍ (تنوع)، په ښار مېشته سیمو کې ادغام؛ د ژوند د کیفیت د ښه کولو، ښوونې او روزنې، د خوړو او تغذیې خوندیتوب، روغتیا او سلامتۍ–او د ایډز، توبرکلوز او ملاریا ساري ناروغیو د له منځه وړلو له لارې- د خوندیتوب د دودولو او د هر ډول توپیر او تاوتریخوالي د له منځه وړلو؛ د وګړو د مشارکت په اړه د ډاډ د ترلاسه کولو - ټولو ته د ټولنیزو فزیکي زېربناوو او بنسټیزو خدمتونو ته خوندي او برابر لاسرسی، او همدا راز د اړتیا وړ او د وګړو له مالي توان سره سم د کورجوړونې د چمتو کولو له لارې د بېوزلۍ ټولو ډولونو او اړخونو په ګډون د بې ساري بېوزلۍ له منځه وړل؛

*(ب)* د پلان شوي ښارمېشته کېدو، د تولید د لوړې وړتیا، سیالۍ او نوښتونو په ګډون؛ د بشپړو او ګټورو کاري بوختیاوو او ټولو لپاره د پتمنو دندو ترویجول؛ د پتمنو دندو او ټولو ته د اقتصادي او ګټورو وسایلو او فرصتونو ته د لاسرسي تامین؛ او د اړتیا پر مهال د ځمکې له احتکاره مخنیوی، د ځمکې د تصرف حق ساتنه او د ښارونو د کوچني کولو له لارې پایښت لرونکې او ټول‌شموله ښاري اقتصاد تأمینول.

*(ج)* د پاکې انرژۍ او په ښاري پراختیا کې له ځمکې او وسایلو څخه پایښتلرونکې ګټه اخیستنه دودول، له طبیعت سره د سالم چارچلند غوره کولو په ګډون د ایکو نظام او د محیط زیست د تنوع ساتنه، د پایښت لرونکي مصرف او تولید ترویجول، د ښارونو پایښت زیاتول، د ناورینونو د ګواښ کمول او اقلیمي بدلونونو سره د تطابق له لارې چاپیریالي پایښت تأمینول.

۱۵. مونږ ځانونه ژمن بولو چې د نوې ښاري اجنډا لپاره په خپلو اساسي افکارو کې بدلون راولو چې دا بیا:

*(ا)* د ښارونو او مېشتځایونو پلان، تمویل، پرمختیا، اداره کولو او مدیریت ته بیا کتنه وکړي؛ او پایښت لرونکې ښاري او ځمکني پرمختیا د ټولو لپاره د پایښت لرونکې پرمختیا او سوکالۍ د یو مهم عنصر په توګه وروپېژني؛

*(ب)* د دوام لرونکې ښاري پراختیا په تعریف او په ټولشموله او اغېزناکو ښاري تګلارو او قوانینو کې د مرکزي حکومت مخکښ رول په رسمیت پېژني؛ او د سیمه‌ییزو حکومتونو او همداسي د مدني ټولنو او نورو اړوندو مشارکینو سهم هم په رڼه او مسؤله توګه مني؛

*(ج)* د لاندې ټکو په ګډون، د وګړو او جنس محوره پایښت لرونکې د ښاري او محلي پراختیا لپاره د یوه داسې همغږې تګلارې غوره کول، چې د پالیسیو، ستراتیژیو، ظرفیت جوړونې او په هره کچه د عمل وړ وي:

(۱) په مناسبو کچو کې د ښاري پالیسیو رغول او پلي کول، د مرکزي – محلي ګډونونو(مشارکتونو) او د نورو مشارکینو سره، د ښاري او د بشر مېشتو سیمو د جامعو سیستمونو رامنځ ته کول او د ښاري هراړخیز او پایېدونکي پراختیا ته د رسېدو لپاره د دولت په ټولو کچو د همکاریو دودول؛

(۲) د داسې مناسبو بنسټونو او میکانیزمونو له لارې د ښاري حکومتولۍ ځواکمنول، چې ښاري سکتور پیاوړی او ورته ونډه ورکړي، او همدغه راز انډول او په ښاري پرمختیایي پلانونو کې ثبات او همغږي رامنځته کړي، چې له کبله یې د ټولنې ګډونوالی، پایښت، ټولشمولتیا او دوامداره اقتصادي وده او د ژوندانه چاپېریال ساتنه ممکنه شي؛

(۳) د ښاري مېشتېدنې مکاني اړخ د پیاوړي کولو او د ښاري مېشتیدنې مثبتو پایلو ته د رسېدلو په موخه د اوږد مهاله ښاري او محلي پلان جوړونې او طراحۍ نوي کول؛

(۴) له هغو اغېزمنو مالي، نوښتي او پایښتي چوکاټونو او ابزارو څخه ملاتړ کول، چې د ښاروالیو او محلي سیستمونو د تقویې زمینې له ښاري پایېدونکې پراختیا څخه د لاس ته راغلو ارزښتونو د رغولو، تأمین او شریکولو لپاره په پراخه کچه ممکنوي؛

## د عمل اړتيا

۱۶. په داسي حال کې چې د ټولو ښارونو، ښارګوټو او کليو ځانګړي حالتونه له يو بل سره توپير لري، په زغرده وايو، چې نوې ښاري اجنډا د ټولو لپاره ګډونواله او وګړمحوره ده؛ زمونږ سياره ساتي او يو اوږدمهاله ليدلوری لري چې په نړيواله، سيمه‌ييزه، ملي او محلي کچو پکې لومړيتوبونه او چلندونه ټاکل شوي او پکې هر هېواد کولای شي، چې د خپلو اړتياوو سره سم ورسره ځان عيار کړي؛

۱۷. مونږ به د بېلابېلو ملي واقعيتونو، وړتياوو او د پرمختګ کچو، ملي قوانينو او دودونو په ګډون پاليسيو او لومړيتوبونو ته په کتلو سره په خپلو هېوادونو کې او د سيمې او نړۍ په کچه د نوې ښاري اجنډا د پلي کولو لپاره کار وکړو؛

۱۸. د اوومې مادې په ګډون، چې ګډ اصل خو جلا مسؤليتونه لري، مونږ ټول د ريو د چاپيريال او پرمختيا له اعلاميې ملاتړ کوو؛

۱۹. د نوې ښاري اجنډا د پلي کولو پرمهال بايد ځانګړې پاملرنه د ښاري پراختيا ځانګړو او رابرسېره کېدونکو ننګونو ته وشي چې ټول هېوادونه او په تېره بيا د مخ پر ودې هېوادونو په ګډون افريقايي هېوادونه، لږ پرمختللي هېوادونه، په وچو کې ايسار خو مخ پر ودې هېوادونه او د وړو ټاپو ګانو مخ پر ودې دولتونه –او دغه راز منځني عايد لرونکي هېوادونه ورسره مخ دي؛ همدا ډول بايد ځانګړې پاملرنه شخړه ځپلو هېوادونو، د بهرني ښکېلاک لاندې هېوادونو، له جګړې راوتلي هېوادونو او طبيعي او انساني ناورينونو سره مخ هېوادونو ته وشي؛

۲۰. مونږ پوهېږو اړينه ده د تبعيض بېلابېلو ډولونو ته ځانګړې پاملرنه وکړو لکه د ښځو او نجونو، ماشومانو او ځلميانو، معلولانو، په اچ آی وي/ايدز اخته کسانو، زړو، بومي خلکو او محلي ټولنو، د نا رسمي او بېوزلو سيمو اوسېدونکو، بې کوره، کارګرانو، لږې ځمکې والا کروندګرو او کب نيوونکو، پناه غوښتونکو، بېرته راستنېدونکو، کورني بېځايه شويو او کډوالو – د کډوالۍ وضعيت ته له پاملرنې پرته- د تبعيض بېلابېلو ډولونو ته په ځانګړې توګه پاملرنه وکړو.

۲۱. مونږ له ټولو مرکزي او محلي حکومتونو او همدغه راز له ټولو ذيربطو لوبغاړو څخه په کلکه غواړو، چې د ملي پاليسيو او قوانينو سره په همغږۍ، مشارکتونه راوپنځوي، پياوړې او جوړه يې کړي، او په خپلو کې همکاري او همغږي زياته کړي ترڅو په اغېزناکه توګه نوې ښاري اجنډا پلي شي او زمونږ ګډ ليدلوری تحقق ومومي.

۲۲. مونږ دغه نوې ښاري اجنډا د دوامداره ښاري پرمختيا د دودولو او پلي کولو لپاره د يوه ګډ ليدلوري او سياسي ژمنې په توګه او د يو تاريخي فرصت په ډول چې ښارونه او ښار مېشتېدنه په ښارمېشتې نړۍ کې د دوامداره پرمختيا ضامن دی قبلوو.

# د نــوي ښــاري اجنډا لپاره د کويټــو د پـلي کولـو پـلان

۲۳. مونږ پتېیلې، چې د نوې ښاري اجنډا د عملي کولو له کبله به مرکزي، محلي حکومتونه او ذیربط لوبغاړي وکولای شي، چې دوامداره ښاري پرمختیا ترلاسه کړي.

## د دوامداره ښاري پرمختیا په موخه د بدلون ژمنې

۲۴. په بشپړه توګه د دوامداره ښاري پرمختیا له امکاناتو څخه د ګټه اخیستنې په موخه، مونږ پر جامعو اړخونو ولاړ او د پایدارې پراختیا نه بیلېدونکې (ټولنیز، اقتصادي او د ژوند په چاپیریال پوري اړین ابعاد) د ښاري بیلګې له لېږد نه پر دغو مواردو د بدلون په خاطر ژمنه کوو:

*د بېوزلۍ د ختمولو او ټولنیز یووالي لپاره دوامداره ښاري پرمختیا*

۲۵. پوهېږو چې په ټولو اړخونو او ډولونو کې د بېوزلۍ له منځه وړل، د بې ساري بې وزلۍ په ګډون، د دوامداره ښاري پراختیا لپاره ستره نړیواله ننګونه او د دوامداره پرمختګ لپاره اړینه ده. همدا راز پوهېږو، چې زیاتېدونکې نابرابري او د بېوزلۍ د متعددو اړخونو شتون (د نه رسمي او بېوزلو هستوګنځایونو د زیاتېدو په ګډون) پراختیا موندلې او د وَدې په حال کې هېوادونه متأثره کوي، او هم دا چې د ښاري فضا سمون، د ښاري فضا لاسرسئ او طراحي او په دې توګه د پالیسیو د رغولو سره د زېربناوو او بنسټیزو چوپړتیاوو راغونډول، کولای شي ټولنیزه همغږي، مساوات او یومخیزوالی اوچت کاندي یا مخه یې ونیسي.

۲٦. مونږ ځانونه داسې ښاري پراختیا ته ژمن بولو چې وګړمحوره وي او زمونږ سیاره خوندي کړي او عُمر (سن) او جنس محوره وي او ټول بشري حقونه او بنسټیزې آزادۍ رامنځ ته کړي؛ ګډ ژوندانه ته آسانتیاوې برابرې کړي؛ د توپیر او تاوتریخوالي ټولو ډولونو ته د پای ټکی کېږدي، او بشپړې او معقولې ونډه اخیستنې په موخه ټول وګړي او ټولنې ځواکمنې کړي. همدا راز مونږ د فرهنګ دودول او رنګارنګي ته درناوی او د ښارونو او د بشر مېشتېدنې په بشري کولو کې د دوی کلیدي رول ته په درنښت قایل یو.

۲۷. مونږ پر خپلې ژمنې ټینګارکوو چې هیڅوک باید بې برخې نه شي او همداسې ځانونه د هغو برابرو او ګډو فرصتونو او ګټو په دودولو کې ژمن بولو چې ښاري مېشتېدنه یې وړاندې کوي او ټول هغه کسان چې په رسمي او نا رسمي مېشت ځایونو کې اوسېږي؛ پتمن، باوقاره، او ستایونکی ژوند ولري او په بشپړه توګه خپل بشري توان ترلاسه کړي.

۲۸. مونږ د کډوالو منزلت ته له نظر کولو پرته ځانونه د کډوالو (مهاجرینو)، داخلي بې ځایه شویو او کډوالو ته په درناوي قایل یو، او د کډوالو کوربه ښارونو څخه د نړیوالې همکارۍ په رڼا کې ملاتړ کوو، د هېوادونو شرایطو ته په پام سره تاییدوو، چې که څه هم ښارګوټو او ښارونو ته د ډېرو وګړو حرکت له ځان سره بېلابېلې ننګونې لري خو دا بیا ښاري ژوند ته ټولنیزې، اقتصادي او کلتوري ونډې هم له ځان سره راوړي. په همدا ډول، مونږ ځانونه ژمن بولو چې د نړیوالې کډوالۍ او په نړیواله، ملي او سیمه‌ییزه کچه د پرمختیا ترمنځ همغږي د خوندي، منظمې او سمې کډوالۍ، چې پروګرام شوي او د منظمو مدیریتي پالیسۍ له لوري وي پیاوړي کړو، او د هغو چوکاټونو په رامنځته کولو کې له محلي چارواکو څخه ملاتړ وکړو، چې په ښارونو کې د کډوالو مثبته برخه اخیستنه او د ښاري - کلیوالي اړیکو ځواکمنول ممکنوي.

۲۹. موږ ځانونه ژمن بولو، چې څنګه مناسبه وي، د مرکزي، سیمه‌ییز او محلي حکومتونو ترمنځ د همغږۍ رول ځواکمن کړو، او دغه راز له نورو عامه بنسټونو او نادولتي موسساتو سره، له ناورین سره مخ ټولنو، او هغه چې د پرله پسې او دوام موندونکو بشري بحرانونو څخه اغېزمنې دي د پانګونې جلبولو په ګډون د ټولو لپاره د ټولنیزو او بنسټیزو خدماتو د وړاندې کولو په برخو کې پر ملتیا هم ژمن یو. دغه راز موږ ځانونه د خدماتو د وړاندې کولو، هستوګنې او په ښارونو کې له بحران څخه اغېزمنو وګړو ته د پټمنو او ثمر ښښونکو کارونو لپاره د بشپړو فرصتونو پر برابرولو ژمن یو، او له سیمه‌ییزو ټولنو او حکومتونو سره د کار کولو له لارې د داسې فرصتونو په ښه کولو ځانونه ژمن بولو چې له کبله یې محلي، دوامدارې او پټمنې حللارې جوړې شي، او دا باید یقیني کړای شي، چې مرستې باید اغېزمنو وګړو او کوربه ټولنو ته ورسېږي، ترڅو د دوی پرمختګ له وروسته تګ سره مخ نه شي.

۳۰. موږ د وسله والو نښتو پرمهال له ښاري خدمتونو څخه د حکومتونو او مدني ټولنې د ملاتړ اړتیا درک کوو. همداسې، موږ د دې اړتیا هم منو، چې نړیوال بشري قانون ته خپل بشپړ درناوی وکړو.

۳۱. موږ خپل ځان ژمن بولو، چې د کورجوړونې په تړاو ملي، سیمه‌ییز او محلي پالیسیو ته وده ورکړو، چې د ژوند معیار ته د حق د یوې برخې په توګه د ټولو لپاره د کورجوړونې له پرمختللي احساس څخه ملاتړ وکړي او د هر ډول توپیر او تاوتریخوالي او د جبري شړلو مخه ونیسي او د بې کوره، له ناورین سره مخ، کم عاید لرونکو او معلولینو پر اړتیاوو پاملرنه وکړي، په داسې حال کې چې د ملي قوانینو او معیارونو سره سم د ژوندانه چاپیریال د تولید په ګډون د پلان جوړونې او پلي کولو پرمهال د ټولنو او اړوندو ونډه اخیستونکو ګډون ممکن کړي.

۳۲. موږ په ټولو سکتورونو کې، په تېره بیا د کار موندنې، پوهنې، روغتیا، ټولنیز ادغام او د حکومت په ټولو کچو کې د هستوګنې د جامعو پالیسیو او چلندونو د ترویجولو او پراختیا ته چې عمر (سن) او جنس محوره وي، ځانونه ژمن بولو. داسې پالیسۍ او تګلارې، چې کورونه پکې مناسب، ارزانه، د لاسرسي وړ، په اغېزمنه توګه پکې وسایل استعمال شوي وي، خوندي، مقاومت لرونکې، ښه نښلول شوې وي او په سم ځای کې موقعیت ولري، او پکې ځانګړې پاملرنه ښاري نږدېوالي، ښاري جوړښت او د ښار څېرمو سیمو ترمنځ د مکاني اړیکو پیاوړي کولو ته وي.

۳۳. موږ ځانونه ژمن بولو، چې د ټولنې بېلابېلو عاید لرونکو ډلو ته د مناسبو هستوګنځایونو بېلابېلو ډولونو انتخابول، چې خوندي، ارزانه او د لاسرسي وړ وي، عرضه کول تشویق کړو، په داسې حال کې چې د بې برخو ټولنو، بې کوره وګړو او هغه چې له زیانمنېدونکي حالت سره مخ دي ټولنیزه-اقتصادي او کلتوري یووالی په نظر کې ونیول شي، ترڅو دوی له تبعیض څخه وژغورل شي. موږ به د بې کوره وګړو د ژوندانه د حالت د ښه کېدو په موخه ګامونه پورته کړو، ترڅو په ټولنه کې د هغوی بشپړ ګډون ته لاره هواره شي، د بې کورۍ مخنیوی او له منځه ویوړل شي؛ همدا ډول د دوی له جرمونو سره هم مبارزې وشي او ورته د پای ټکی کېښودل شي.

۳۴. موږ ځانونه له توپیر پرته د ټولو لپاره د دوام لرونکې بنسټیزو فزیکي او ټولنیزو زیربناوو ته په مساوي، د استطاعت وړ د لاسرسي په دودولو، او د ځمکې د استطاعت وړ خدماتو په ګډون، هستوګنځي، نوي او د تجدید وړ انرژۍ، د څښلو اوبو او د صحت خوندیتوب، خوندي غذايي موادو او مناسبو خوړو، د زباله له

منځه وړلو، دوامداره ترانسپورت، روغتیایي پاملرنې او کورني پلان، پوهنه، کلتور، او معلوماتي ټکنالوژۍ په دودولو کې ژمن بولو. مونږ لا هم ژمن یو، ترڅو ډاډ ترلاسه کړو، چې دغه خدمتونه د مېرمنو، ماشومانو او ځوانانو، زړو او معلولینو، کډوالو، بومي او محلي خلکو، لکه څنګه چې مناسبه وي، او هغه نور چې په زیانمنو حالتونو کې وي د دوی حقونو او اړتیاو ته ځواب ووایي. په دې تړاو مونږ د حقوقي، تشکیلاتي، ټولنیزو – اقتصادي او فزیکي خنډونو له منځه وړل هڅوو.

۳۵. مونږ د دولت په بېلابېلو کچو کې د اداري اغېزناکو سیستمونو په ګډون، د ټولو لپاره د تصرف خوندیتوب د زیاتېدو ترویجول، د تصرف د ډولونو په رسمیت پېژندل او له شرایطو سره انډول او د عمر، جنس او د ځمکې او ملکیت په حقونو کې د چاپېریال د مناسبو چلندونو په رامنځ ته کولو او د میرمنو د ځواکمنولو لپاره د ځمکې د تصرف خوندیتوب ته په یوې ځانګړې پاملرنې ځانونه ژمن ګڼو.

۳۶. مونږ په ښارونو او بشر مېشتو سیمو کې د هغو تدبیرونو دودولو ته ځانونه ژمن ګڼو، چې د ښار فزیکي ماحول په تېره بیا عامه ځایونو، عامه ترانسپورت، هستوګنځایونو، پوهنې او روغتیایي اسانتیاوو، عامه معلوماتو او اړیکو (د ټکنالوژۍ او د معلوماتو او اړیکو نیولو سیستمونو په ګډون) او نورو اسانتیاوو او خدماتو ته چې په ښاري او کلیوالو سیمو کې د عامه خلکو پر لور پرانیستې وي ته په مساوي ډول لاسرسی زیات کړي.

۳۷. مونږ د عامه، خوندي، ټولشموله، د لاسرسۍ وړ شنو او د باکیفیته ځایونو ترویجولو ته ځانونه ژمن بولو، چې په دې کې واټونونه، د پلي او بایسکل چلوونکو لارې، چوکونو، د اوبو څنډې، باغونه او پارکونه راځي. دا د متنوع کلتورونو او ډول ډول وګړو ترمنځ د اړیکو د رامنځ ته کولو، د انسانانو د ټولنیزې یووالي، روغتیا او صحت، د اقتصادي راکړې ورکړې او د فرهنګي نندارې او ډیالوګونو د تأمینولو سیمې دي. او د بشري ودې او د سوله ییزو، هراړخیزو او ونډه اخیستونکو ټولنو د رغولو؛ او همدا رنګه د ګډ ژوندانه، اړیکو او ټولیزې یومخیزوالي لپاره طرح او مدیریت کېږي.

۳۸. مونږ ځانونه په ښارونو او بشر مېشته سیمو کې له طبیعي او فرهنګي محسوسو او نامحسوسو مېراثونو څخه پایښت لرونکو ګټو اخیستنو ته د ښاري او سیمه ییزو جامعو پالیسیو او په ملي او سیمه ییزه کچه د زېربناو او ساحاتو، میوزیمونو، بومي فرهنګونو او ژبو؛ او همداسې، دودیزو پوهو او هنرونو د ساتنې او پرمختګ لپاره د بساینډو پانګه اچونو له لارې، د هغې د دې نقش په رابرسېره کولو سره چې د ښاري ساحو په راژوندي کولو او بیارغونه او د ټولنیزې برخې درلودنې او د ښاروندۍ په عملي کولو کې یې لري، ژمن ګڼو.

۳۹. مونږ په ښارونو او د هستوګنې په سیمو کې د داسې خوندي، روغتیا، ټولشموله او باامنه چاپېریال دودولو ته ژمن بولو، چې ټولو ته د ژوندانه، کار او په ښاري ژوند کې د تاوتریخوالي او ویرې پرته د ګډون امکان رامنځ ته کوي، د دې په نظر کې نیولو سره چې ښځې او نجونې، کوچنیان او ځلمیان او زیان منونکي کسان زیاتره ترې متأثره کېږي. په همدې توګه، مونږ به د ښځو او نجونو پر وړاندې د زیان رسوونکو چلندونو د محوه کولو په لار کې (بې وخته او د کوچنیانو جبري ودونو او د نجونو د تناسلي غړو پرېکولو په ګډون) کار وکړو.

۴۰. مونږ ځانونه په ښارونو او د هستوګنې په سیمو کې د ټولنیزې یووالي، بین الثقافتي ډیالوګونو او تفاهم، زغم، د یو بل په وړاندي درنښت، جنسیتي برابری، نوښتونو، کار پنځوني، ګډون، پېژندنې او خوندیتوب، او ټولو وګړو ته درناوی؛ همداسي د یوه خوځنده او څېړونکې اقتصاد پالنې لپاره د تنوع منلو ته ژمن بولو؛ همداسي مونږ ځانونه دې ته هم ژمن بولو، چې زموږ محلي اداري په ډېر فرهنګي او زیاتېدونکې څو رنګه ټولنو کې پلورالېزم او ګډ سوله‌ییز ژوند د دودولو تضمین وکړي.

۴۱. مونږ د هغو تشکیلاتو، سیاسي، حقوقي او مالي مېکانیزمونو په دودولو کې ځان ژمن ګنو، چې په ښارونو او په مېشتځایونو کې ټولشموله پلاټفورمونه پراخوي، چې له ملي پالیسیو سره په مطابقت وي، او ټولو ته د پریکړو، برنامو جوړولو، او تعقیب پروسو کې د مشارکت ترځنګ د ښاریانو بوختیا زیاتوي او همکاریو او د ګډو تولیداتو شرایط ممکنوي.

۴۲. مونږ، د اړتیا له مخې، له سیمه‌ییزو او محلي حکومتونو څخه ملاتړ کوو، چې د خپل کلیدي رول د رعایتولو له مخې د ټولو اړوندو شریکانو ترمنځ اړیکه پیاوړې کوي، د عمر(سن) او جنس محوره تګلارو له مخې د ډیالوګ لپاره فرصتونه برابر کړي، او په ځانګړې توګه د نارینه او ښځو، ماشومانو او ځوانانو، زړو او معلولینو، بومي وګړو او محلي ټولنو، مهاجرینو، داخلي بې ځایه شویو او کډوالو (د کډوالی له حالت پرته)، د توکم، مذهب، نژاد یا ټولنیز-اقتصادي حالت له توپیره پرته د دوی وړتیا لرونکي مشارکت ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

*د ټولو لپاره د هوساینې او د ښاري پایښت لرونکي او هراړخیز فرصتونه*

۴۳. مونږ تاییدوو، چې پایېدونکې، ټولشموله او دوامداره اقتصادي وده، د ټولو لپاره ګټورې دندې او پتمنې مشغولتیاوې، د ښاري او محلي پایښت لرونکې پراختیا مهم عنصرونه دي، او ښارونه او د بشر مېشتېدنې ځایونه باید د برابرو فرصتونو ځایونه وي، ترڅو خلک پر دې وتوانېږي چې سالم، ګټور، سوکاله او د منلو وړ ژوند ولري.

۴۴. موږ منو، چې د ښارونو بڼه، زېربناوې او د ودانیو طراحی د لګښتونو او وسایلو د موثریت له سترو محرکینو څخه دي، او د ګټو د کچې له طریقې، د تولید او له انرژی – نوې کېدونکې انرژی – څخه د ښه کاراخیستو د دُودَولو، ګټورتیا، د ژوندانه چاپېریال ساتنې او د ښاري اقتصاد د پایښت لرونکې ودې په وسیله ترلاسه کېږي.

۴۵. مونږ د خوځنده، پایېدونکي او ټولشموله ښاري اقتصاد پرمختګ ته ژمن یو، چې پر محلي توانایي، د سیالیو پر ګټو، فرهنګي میراثونو او محلي سرچینو، او پر اغېزناکو وسایلو او کلکو زیربناوو ولاړ وي، او همدا راز دوامداره او ټولشموله صنعتي پرمختګ، د مصرف او تولید د پایښت لرونکو بېلګو ته پراختیا ورکړي، او سوداګرۍ، نوښتونو، او معیشیت ته مساعد چاپیریال رامنځته کړي.

۴۶. مونږ په اقتصادي پرمختګ او د نورو اقتصادي سکتورونو د وړتیا په راپارولو کې د ټولنیز چاپیریال تولید په ګډون د ارزانه او پایښت لرونکي کورجوړوني او د کورجوړوني د تمویل د رول ترویج ته ژمن یو. تاییدوو چې کورجوړونه د پانګې، عوایدو او کارزېږوني او سپما لامل ګرځي او کولای شي د مرکز او ولایتونو په کچه د اقتصادي پایښت لرونکې او هراړخیز بدلون په پرمخ بېولو کې مرسته وکړي.

۴۷. مونږ ځانونه ژمن بولو چې د حکومت او اړوندو مشارکینو په ټولو کچو د محلي اقتصادي پرمختګ، د ادغام زیاتونه، همکاري، همغږي او ډیالوګ څخه د ملاتړ په موخه د ملي، سیمه‌ییز او محلي ادارو د پیاوړي کولو په تړاو اړین ګامونه پورته کړو.

۴۸. مونږ د محلي حکومتونو؛ خصوصي سکتور او مدني ټولنو؛ مېرمنو؛ د ځوانانو، معلولینو، بومي وګړو، مسلکي متخصصینو استازیتوب کوونکې سازمانونو، اکاډمیکو مرکزونو، د سوداګرو ټولنو، کارکوونکو ټولنو، کډوالو ټولنو او فرهنګي ټولنو او د ټولو اړوندو شریکانو ترمنځ د موثر مشارکت او همغږۍ رامنځته کول، ترڅو دوی وکولای شي، د ښاري اقتصادي پرمختګ لپاره د فرصتونو ترڅنګ شته او راپورته کېدونکې ننګونې هم په نښه کړي.

۴۹. موږ له ځمکنې سیسټمونو څخه پر ملاتړ ژمن یو، چې ښاري او کلیوالي برخې په ملي او محلي مکاني چوکاټونو او د ښارونو او بشر مېشته سیمو په سیسټمونو کې سره یوځای کوي او په دا ډول د طبیعي منابعو او ځمکې څخه پایدار مدیریت او ګټه اخیستنه دودوي، او د ډاډ وړ عرضې او د متوازنې سیمه‌ییزې ودې او پراختیا لپاره د کلیوالي او ښاري سیمو ترمنځ د عرضې او تقاضا اړیکه رامنځته کوي او په کلیواله-ښاري سیمو کې مساوي سیمه‌ییز پرمختګ ته لاره هواروي او د ټولنیزې، اقتصادي او محلي تشې ډکوي.

۵۰. مونږ د پایدار ټرانسپورټ او لېږدرالېږد، او د ټکنالوژۍ او اړیکو د شبکو او زېربناوو د ځواکمنولو پر مټ د ښاري – کلیوالي تعاملاتو او اړیکو راهڅولو ته د مثمرو تقویه کولو، ټولنیزې، اقتصادي او محلي یووالي او همدا راز د ژوند چاپېریال په خوندیتوب د دې سکټور له بالقوې ځواکونو څخه د ګټې اخیستنې لپاره پر ښاري او محلي هر اړخیزو تګلارو متکي او د پلان جوړونې له ابزارو څخه په ګټه اخیستنې ځانونه ژمن ګڼو. دغه چاره به د اړتیا پر وخت د ښارونو او څېرمو سیمو، د ښارونو شاوخوا او کلیوالي ساحو او همدارنګه د ځمکې – سیند ترمنځ د پراخو اړیکو تأمینوونکې وي.

۵۱. مونږ د ښاري فضا د چوکاټونو پراختیا دودولو ته (د ښار د پروګرام جوړونې او طراحۍ په ګډون) ځانونه ژمن بولو، چې د طبیعي سرچینو او ځمکې مدیریت او پایدارې ګټې، مناسب تراکُم او تکاثُف، ګڼو مرکزونو او د ګټې اخیستو مختلط موارد، د سپما په موخه د ښاري پلان شوې خپرېدا د کړنلارو په وسیله او له ډېر تولید، د خوړو سیسټم د پلانولو تقویې او له منابعو څخه د کاراخیستنې د مثمریت لا ښه کېدل، ښاري ټینګښت او د ژوند چاپېریال پایښت لپاره ملاتړ رامنځ ته کوي.

۵۲. موږ د فضا د پراختیا داسې ستراتیژۍ هڅوو، چې پکې د پلان شوې ښاري خپرېدا، او د ښارونو د بیا رغولو لومړیتوبونه لکه د زېربناوو او د لاسرسي وړ او ورسره د ټولو خدمتونه راغونډول په پام کې نیول شوي؛ د نفوسو د پایدار تراکُم او تکاثُف طراحۍ او ښاري سکښت ته د نویو محلاتو نښلول، له پاشلتوب او منزوي کېدو څخه مخنیوی پکې وي.

۵۳. موږ ځانونه د عامو خوندي، ټولشموله، د لاسرسي وړ، شنو او باکیفیته ځایونو په رواجولو کې د ټولنیزې او اقتصادي پراختیا د پاروونکو په توګه او د هغو له بالقوه امکاناتو څخه د پایدار کار اخیستو په موخه د ټولنیز او اقتصادي ارزښت په رغولو او زیاتولو کې – د ملکیت د ارزښت او د عامو او خصوصي سوداګریو او پانګه اچونو او ټولو ته د معیشت فرصتونو د رامنځ ته کولو په ګډون – ژمن ګڼو.

۵۴. موږ د تولید او د نوې کېدونکې او استطاعت وړ انرژۍ، پایدار او موثره ترانسپورتي زیربناوو او خدماتو، د امکان په حالت کې، د نښلون ګټې ترلاسه کول او د بې موثره حمل و نقل، ګڼه ګونې، د هوا ککړتیا، د ښاري تودوخي اغېزو او صوتي ککړتیا مالي، چاپېریالي او د عامه روغتیا لګښتونو راکمولو ته ځانونه ژمن بولو، ترڅو د ټولو وګړو په ځانګړې توګه د ښځو او د هغو کسانو د انرژۍ او ټرانسپورتي اړتیاو ته خاصه پاملرنه وشي، چې دوی د هستوګنې په نارسمي ځایونو کې اوسېږي. موږ په دې پوهېږو چې په ښارونو او بشرمېشته سیمو کې د نوي کېدو وړ انرژیو د لګښتونو کمېدا د انرژۍ د پانګونې یوه اغېزمنه وسیله رامنځته کوي.

۵۵. موږ ځانونه د روغو ټولنو په پالنه، بسایني، ټولشموله او د باکیفیته خدماتو او د ژوندانه پاک چاپېریال ته د لاسرسي پر مټ، او د هوا د ځرنګوالي د لاربښودو په پام کې لرلو، په تېره بیا د نړیوال روغتیایي سازمان لهخوا وړاندې شوي لارښودونه، او د زیربناوو او ټولنیزو تاسیساتو لکه روغتیایي خدمتونو، دغه راز د جنسي او امیدواري روغتیایي خدماتو ته په لاسرسي کې هم ځانونه ژمن بولو، ترڅو د نوي زېږېدلو ماشومانو او مېندو مرګ کم شي.

۵٦. موږ کاري ځواک ته د عوایدو ترلاسه کوونکو فرصتونو، پوهې، مهارتونو او د زدهکړو اسانتیاوو ته د لاسرسي له لارې د اقتصادي تولید زیاتولو ته ځانونه ژمن بولو، چې له ابتکاري او رقابتي ښاري اقتصاد سره مرستندوی وي. همدا راز موږ په ښاري او اوسېدنځایونو کې د بشپړې او مثمرې کارموندنې د دودولو او پتمنو کارونو او د ګوزارې (معیشت) فرصتونو له لارې د اقتصادي ګټورتیا لا زیاتوالي ته ځانونه ژمن ګڼو.

۵۷. موږ په ښارونو او هستوګنیزه سیمو کې بشپړې او مثمرې کارموندنې، د ټولو لپاره پتمنې دندې، او د ژوندانه د فرصتونو پر دودولو ځانونه ژمن ګڼو چې ښځو، ځوانانو، معلولینو، بومي وګړو او محلي ټولنو، پناه غوښتونکو او داخلي بېځایه شوو او کډوالو، په ځانګړې توګه ښځو او زیان منونکو کسانو، او بې توپیره د مشروع عوایدو د ترلاسه کولو فرصتونو ته لاسرسي ولرې پاملرنه کوو.

۵۸. موږ د پایدار چاپېریال، او ټولیزې سوکالۍ، د پانګونو دودولو، نوښتونو او د تشبث پر اصولونو ولاړ د یو چمتو، پر عدالت ولاړ او مسولیت منونکي کاري چاپېریال ترویجولو ته ځانونه ژمن ګڼو. همدا راز، موږ ځانونه د محلي کاري ټولنو پر وړاندې ننګونو ته په رسېدو کې له اقتصادي بنسټونو او له ډېرو کوچنیو او منځنیو تشبثاتو څخه د ملاتړ له لارې ژمن بولو، چې دغه کار، په ځانګړې توګه هغه شرکتونه او تصدۍ په بر کې ونیسي چې د ټولنیز او همغږي اقتصاد په رسمي او نارسمې برخو کې فعالیت لري، هم ژمن بولو.

۵۹. موږ په ځانګړې توګه –د مېرمنو، د ناتادیه داخلي او کډوالو کارګرانو په ګډون د هېواد د حالاتو په پام کې لرلو سره د ښارونو په غیر رسمي اقتصاد کې د ښځو کارګرانو سهم په رسمیت پېژنو. د دوی ژوند، کاري شرایط او عوایدو امنیت، حقوقي او ټولنیز خوندیتوب؛ مهارتونو، شتمنیو او نورو حمایتي خدماتو ته لاسرسی؛ او غږ رسونه او استازیتوب باید پراخ شي. رسمي اقتصاد ته د کارکوونکو او اقتصادي واحدونو پرمخ تلونکی لېږد له یو انډولیزې تګلارې څخه په استفادې - د منلو لپاره یې د امتیازونو او تدبیرونو په مله – او په عین وخت کې د موجودو اسانتیاوو د ساتنې او لا ښه کېدو دودولو ته پراختیا ورکول. موږ به ملي حالتونه، قوانین، پالیسۍ، کاري تګلارې او ځانګړي لومړیتوبونه د رسمي اقتصاد خوا ته د لېږد لپاره په نظر کې ولرو.



کابل، افغانستان ©UN-Habitat

۶۰. موږ د ښاري اقتصاد له پایښت څخه ملاتړ کوو، چې د ارزښت زیاتوونکو سکتورونو له لارې په تدریجي توګه تولیدات د تنوع، د تکنالوژۍ لوړولو، څېړنو او نوښتونو، د باکیفیته، پتمنو او اغېزمنو کارونو په ګډون؛ لکه د فرهنګي او تفریحي صنایعو دودول، پایدارې ګرځندویي او د هنر او فرهنګي میراث ساتنې د فعالیتونو پلې کول – له زیات شوي لوړ ارزښت درلودونکو سکتورونو له لوري، ژمن بولو.

۶۱. موږ په ښارونو او مېنو کې د ډېموګرافیک له ګټو څخه په کاراخیستو او ښوونې او روزنې ته د ځوانانو د لاسرسي، د مهارتونو ودې او دندو زیاتونې په تړاو ژمن یو، ترڅو د دوی د تولید کچه او ټولنیزه سوکالي زیاته شي. د ښه راتلونکي لپاره نجونې او هلکان، ښځې او نارینه د بدلون عمده عوامل دي او کله چې پیاوړي شي نو د خپلو ټولنو او ځانونو ملاتړي کېدلای شي. د دوی د زیاتې، ښې او معقولې ونډې اخیستنې تضمین به د نوې ښاري اجنډا د عملي کولو لپاره اړین وي.

۶۲. موږ د مخ په زړښتو نفوسو ټولنیزې، اقتصادي او مکاني اغېزو ته د چال چلند او د زړښت له عامل څخه د پتمنو او دوام لرونکو کارونو، اقتصادي هراړخیزې او پای نه منونکې ودې، او په همدې حال د ښاري وګړو د ژوندانه څرنګوالي په ښه کولو کې ځانونه ژمن ګڼو.

*د چاپېریال له اړخه ښاري غزېدونکې او ټیکاو لرونکې پراختیا*

۶۳. موږ پوهېږو چې ښارونه او مېنې د بې ثباته مصرف او تولید، د بیولوژیکي او ژوندانه د رنګارنګۍ له منځه تلو، په ایکو سیسټمونو باندې د فشار، د هوا د ککړتیا، د طبیعي او د انسانانو په لاسونو د رامنځ ته شویو ناورینونو، د اقلیمي بدلونونو او اړوندو ګیزونو له ګواښ سره مخ دي چې وړاندېونه یې ناشونې ده، دا ګواښونه د بېوزلۍ د ټولو ډولونو او اړخونو د له منځه وړلو، او دوام لرونکې پراختیا ته د لاسرسي هڅو په وړاندې خنډ ګرځېدلي دي.

په ښارونو کې د ډیموکراتیکې تګلارې او په نړیوال اقتصاد کې د هغې د مرکزي نقش په پام کې ساتلو او د اقلیمي بدلونونو له سرچینو او ایکوسیسټمونو څخه د ګټې اخیستو له لارې، په پانګونه کې د پلان ډول، پراختیا، ودانولو، اداري چارو او مدیریت په تړاو باید دا تګلاره عملي شي ترڅو خطرونه راکم او پر ښارونو یې مستقیمه اغېزه متأثره شي. له دې لارې وکولای شو چې پایښت لرونکي او با ثباته ښارونه ولرو.

۶۴. موږ پوهېږو چې د ټولې نړۍ ډېری مرکزي ښارونه، په ځانګړې توګه د مخ پر ودې هېوادونو مرکزي ښارونه، داسې ځانګړتیاوې لري چې اوسېدونکي یې د اقلیمي بدلونونو د ناوړو ګواښونو او نورو طبیعي زیانونو او د انسانانو په لاس منځته راغلو خطرونو په وړاندې - د زلزلې، سختو اقلیمي پېښو، سیلابونو، د ځمکې کېناستو او توپانونو په ګډون او د شګو له توپانونو، تودوخې، د اوبو لږوالي، وچکالیو، د اوبو او هوا ککړتیاوو او هغو ناروغیو سره چې د ناقلانو په وسیله خپرېږي تل له زیان سره مخ دي - او د سیند د سطحې په جګېدو سره - ساحلي سیمې، د دلتا منطقې او د پر مخ ودې هېوادونو وړې ټاپوګانې ترې اغېزمنې کېږي.

۶۵. مونږ ځانونه ژمن بولو چې په ښارونو او د هستوګنې په ځایونو کې د طبیعي سرچینو د دوام لرونکي مدیریت آسانتیاوې رامنځته کړو داسې چې ایکوسیسټم او د ژوند او چاپېریال اړوند خدمتونه دوام ومومي، د کارخانو/ګُلخانه اي ګازونه خپاره نه شي او د هوا ککړتیا راکمه شي، د آفاتو خطر د کمښت کړنلارې ورغول شي او له پراختیا څخه د ملاتړ او د طبیعي او د انسان په لاس رامنځ ته شویو آفتونو خطر کم شي

– د خطراتو د کچې معيارونو په ګډون – د آفاتو د کمولو او د هغو د خطراتو مديريت ترويج شي او په همغه حال دوام لرونکې اقتصادي پراختيا وپالل شي او د ټولو وګړو روغتيا او د ژوند کيفيت د ښاري او محلي مناسبو پلان جوړونو، زېربناوُ او بنسټيزو چوپړتياوُ له لارې، وساتل شي.

٦٦. موږ ژمن يو چې د «ځيرک ښار» له تګلارې څخه ګټه پورته کړو، له دې لارې به ډېرى چارې ډيجيټلي شي، پاکه انرژي او ټيکنالوژي او همداراز د ټرانسپورټ نوښتي (ابتکاري) ټکنالوژي به د لاسرسي وړ وي، د ځمکې پرمخ اوسېدونکو ته به فرصت ورکړل شي چې د چاپېريال او ښه ژوندانه انتخاب وکړي او اقتصادي وده رامنځته کړي او ښارونو ته دا وړتيا ورکړي چې د خدمتونو په رسولو کې بهبود رامنځته کړي.

٦٧. موږ ځانونه ژمن بولو چې د اړيکو لرونکو او پراخو عمومي پرانېستو شبکو په دودولو او رغولو باندې چې ښلابېلې موخې ولري، د ټولو په غېږ کې نيوونکې، د لاسرسي وړ، شنه او د کيفيت درلودونکې وي د اقليمي بدلونونو او آفاتو په وړاندې د ښارونو کلکوالي د ښه کېدو لپاره – د سېلابونو، د وچکاليو او تودوخې خطرونو، د خواړو امنيت او د تغذيې ښه کېدا، جسمي او روحي روغتيا، د محيط او کور د هوا څرنګوالى، د غږ او ږوغو کمېدل او د جذابو او د ژوندانه وړ ښارونو، مېنو او ښاري منظرو ترويجولو او د بومي ډولونو ساتنې ته د لومړيتوب ورکونې په ګډون - ژمن ګڼو.

٦٨. موږ ځانونه ښاري دلتاوو، ساحلي سيمو او د ژوند چاپېريال له اړخه پر نورو حساسو ساحو باندې ځانګړې پام کولو ته ژمن بولو چې دغه چاره د اېکوسيسټم د پام وړ سرچينو د رامنځ ته کوونکو په حيث د ټرانسپورټ، د خواړو امنيت، اقتصادي سوکالي، د اېکوسيسټم خدمتونو او کلکوالي پياوړى کوي او ارزښت يې زياتوي. موږ ځانونه په ښاري او محلي دوام لرونکي پروګرامونو او پراختيا کې د تدبيرونو يو شانوالي ته ژمن ګڼو.

٦٩. موږ ځانونه د ځمکې د اېکالوژيکو دندو خونديتوب او ښه کېدلو – د ساحلي سيمو په ګډون چې ښارونه او د اوسېدو ځايونه په غېږ کې لري - او پر اېکوسيسټم باندې ولاړ د حل لارو رغولو د مصرف او توليد بېلګو د تأمينولو لپاره د اېکوسيسټم د بيا رغونې ظرفيت پاى ته رسېدو د مخنيوي په موخه، ژمن بولو. همدارنګه موږ ځانونه له ځمکې نه د پايدارې ګټې اخيستنې، د کافي تراکم او تکاثف سره د ښاري پراختيا د ترکيب دودولو ته له ښاري پاشلتيا څخه د مخنيوي او کنټرول لپاره؛ او همدارنګه له ځمکې نه د ګټې اخيستو په مواردو کې له بدلونه مخنيوي او د حاصل ورکوونکو ځمکو ماتېدونکو او مهمو اېکوسيسټمونو له هَبَته کېدو نه په مخنيوي باندې ژمن ګڼو.

٧٠. موږ ځانونه د توکو او بنسټيزو خدمتونو د محلي راغونډونې په ملاتړ او د سرچينو له نږدېوالي څخه په کار اخيستو باندې له دې امله ژمن بولو چې له لېرو لارو نه د انرژۍ، اوبو او خوراکي توکو پر زېرمو له اندازې زيات تکيه کولاى شي د هغو په پايېدو باندې ځينې ننګونې رامنځ ته کړي – د خدماتو د عرضه کولو په ترڅ کې د ګډوډېيو د رابرسېره کېدو د زيان منلو په ګډون، او دا چې محلي لاسته راوړنې کولاى شي سرچينو ته د اوسېدونکو لاسرسى آسانه کړي.

٧١. موږ ځانونه د سرچينو؛ لکه: ځمکه، اوبه (سيندونه،دريابونه او تازه اوبه)، انرژيو، توکو، ځنګلونو او خواړو، د دوام لرونکي مديريت پياوړي کولو او د ژوندانه چاپېريال مناسب مديريت او د ځځلو او خطرناکو کېمياوي توکو کمونې ته – د هوا ککړوونکو، ګلخانه يي ګازونو او ږغ په ګډون، په ځانګړې پاملرنې درلودو کې

داسې ژمن ګڼو چې پکې کليوالي اړيکې، عرضه او اقتصادي زنځيرې د ژوند چاپېريال اغيزو او پايېدنې په وړاندې په پام کې ونيول شي، د ځرخنده اقتصاد پرخوا د لېږد لپاره هڅه وشي او په همدې حال د اېکوسيستم ساتنې، بيارغونې، بيا جوړونې او کلکولو ته د نويو او رابرسېره کېدونکو ننګونو په پايله کې اسانتياوې رامنځ ته کړي.

۷۲. مونږ ځانونه د ښاري او محلي اوږدمهاله پلان رغولو بهير او د ښاري پراختيا هغو لارو ته چې د اوبو سرچينو جامع پروګرامول او مديريت پکې وي، په محلي او سيمه ايزه کچه د ښاري – کليوالي سره نښلېدو په پام کې نيولو باندې د همکارانو او مربوطو ټولنو د برخې درلودو په ګډون، ژمن ګڼو.

۷۳. موږ ځانونه له اوبو څخه د پايدارې ساتنې او ګټه اخيستو ته په ښاري، ښار ته څېرمو او کليوالي ساحاتو کې د اوبو سرچينو د راژوندي کولو له لارې، د بدرفتو اوبو د کمولو او تصفيې، د اوبو ضايعاتو د کمولو، د اوبو د بيا کارونې د ترويج او د زېرمو د زياتولو، د اوبو پر ساتنې او د اوبو د دوران په پام کې نيولو سره د اوبو تغذيې ته، ژمن بولو.

۷۴. موږ ځانونه له چاپېريال سره سم د خځلو مديريت او د خځلو (کثافاتو) د پايدار کمولو ترويج ته؛ د کمولو، بيا کاراخيستنې او د خځلو راګرځونې، د خځلو د ښخولو، کمښت او انرژۍ ته د هغو په اړونې باندې ژمن بولو. کله چې د خځلو بيا را ګرځونه ونه شي يا کله چې دغه ګزينې د ژوند چاپېريال له اړخه ډېره ښه پايله ورکړای شي. په همدې توګه مونږ ځانونه په ساحلي سيمو کې د سيندونو د ککړتياوو کمولو ته د خځلو او ککړو اوبو د مديريت ښه کېدلو له لارې ژمن ګڼو.

۷۵. موږ ځانونه، د اړتيا له مخې، د مرکزي او محلي حکومتونو راهڅونې د پايدارې، نوې کېدونکې او د استطاعت سره انډولې انرژۍ او د ودانيو او د ودانولو د ډولونو پراختيا ته له انرژۍ څخه په ګټورې کار اخيستنې او د انرژۍ د ساتنې او اغېزمنولو په ترويجولو چې د ګلخانه يي ګازونو او توروکاربن د کمښت لپاره اړين دي؛ د توليد او مصرف پايدارو بېلګو رامنځ ته کولو، د پټمنو کارونو د راپنځولو، د عامه روغتيا ښه کولو او د انرژۍ وړاندې کولو د خرڅ کمښت ته، ژمن بولو.

۷۶. موږ ځانونه له طبيعي سرچينو څخه د دوام لرونکې استفادې او د خامو منابعو او ودانيزو موادو؛ لکه: کانکرېټ، اوسپنې، لرګو، مېنرالونو او ځمکې په اغېزمنتيا باندې تمرکز ته ژمن يو. مونږ ځانونه د بيا ترلاسه کولو بنسټونو په رغولو او د موادو د خوندي بيا ګوتو ته راوستلو، د دوام لرونکو او کلکو ودانيو پر دودولو او محلي، له زهرو پرته او بيا ترلاسه شوو او له سربه پرته رنګونو په کارولو ته په لومړيتوب ورکولو کې ژمن بولو.

۷۷. موږ ځانونه د ښارونو او د اوسېدو سيمو د کلکوالي تقويې ته د پراختيا او د زېربناوو د رامنځ ته کولو او د ښاري فضا کيفيت لرونکي پلان جوړولو، د عمر او جنس او په اېکوسيستم باندې ولاړو لارو چارو، ځواب ورکوونکو پاليسيو او پلانونو تصويب او پلي کولو، د ۲۰۱۵ تر ۲۰۳۰ مېلادي کلونو د آفتونو د خطر کمولو ته د سنډای له چوکاټ سره په انډولۍ او د ټولو کچو د مديريت د عمومي کولو او په ټولنه او ارقامو ولاړ د آفتونو خطر کمولو، د زيان منلو او خطرونو کمښت ته، په ځانګړې توګه له خطر سره مخ په رسمي او غير رسمي سيمو کې – د بېوزلو د مېنو په ګډون - او کورنيو، ټولنو، بنسټونو او خدماتو ته په ځواک ببښنه کې د خطراتو په وړاندې د چټک چمتووالي، تطابق او ښه کېدو لپاره – د پټو زيانونو او فشارونو په ګډون – ژمن ګڼو. موږ به د هغو زېربناوو پراختيا چې کلک او د سرچينو له اړخه ثمربښونکې وي او د آفتونو زيان او اغيزو



Tel Aviv, Israel

ته کمښت ورکوي – د بېوزلو اوسېدنځايونو او د هستوګنې غير رسمي محلاتو د بيا رغونې او ښه کېدو په ګډون - ترويج کړو. همداسې موږ به داسې تدبيرونه د ټولو هستوګنځايونو او محلاتو پياوړي کولو او لوړولو ته - د غير رسمي او د بېوزلو د مېنو په شمېر – د محلي چارواکو او دست اندرکارانو سره په همغږۍ کې رامنځ ته کړو، چې د آفتونو پر وړاندې کلک اوسي.

٧٨. موږ ځانونه ژمن بولو، ترڅو د فعالو روشونو پرخوا د ټولې ټولنې لپاره له حرکت نه، د ټولو آفتونو په خطراتو باندې؛ لکه: د خطرونو په هکله د عامه پوهاوي د کچې لوړول او د پروګرام شوي پانګونې ترويجول، له خطرونو نه د مخنيوي او پر وړاندې يې ټينګولو او ورسره له جګړې او له طبيعي او د انسان په لاس له رامنځ ته شويو آفتونو څخه د اغېزمنو اوسېدونکو بېړنيو اړتياوُ ته له محلي، پر وخت او اغېزناکې ځواب ورکونې ملاتړ وکړو. په دې چاره کې د «بيا يې ښه جوړ کړه» اصولو ځايول له آفتونو څخه د ښه کېدو په بهيرونو کې د ټينګار رامنځ ته کول، چاپېريالي او د ښاري فضا تدبيرونه او له تېرو آفتونو څخه د زده کړو درسونه، او همداسې په نوې برنامه جوړونه کې د نويو خطرونو په هکله پوهاوی دی.

٧٩. موږ ځانونه د نړيوالو، ملي او محلي چلندونو ترويج – د اقليمي بدلونونو د اغېزو د تطابق او کمښت څخه د ملاتړ په ګډون - د ښارونو او مېنو، د هغو د اوسېدونکو او نورو محلي دست اندرکارانو له هڅو څخه، د مهمو پلي کوونکو په حيث، ملاتړ ته ژمن ګڼو. ياد شوي تدبيرونه بايد د پاريس د هوکړې له موخو سره اړخ ولګوي چې د اقليمي بدلونونو په اړه د ملګرو ملتونو د چوکاټ مطابق – له صنعتي کېدو څخه مخکې سويې څخه ۲ درجو پورته د نړيوالې تودوخې د اوسط لوړالي د ساتنې په ګډون او له صنعتي کېدو مخکې سويې څخه ۱.۵ سانتي ګرېډ لوړ ته د تودوخې درجې محدودول تصويب شول.

٨٠. موږ ځانونه د اوږدمهاله پلان‌جوړونې د بهير تطبيق، او همدا شان د ښار په کچه د زيان منلو او اِقليمي اغېزو د څېړنې د هسې تطابقي پلانونو، پاليسيو، برنامو او چال چلندونو په ملاتړ باندې ژمن بولو چې د ښارونو د اوسېدونکو د تکړه توب لامل ګرځي – په اېکوسيستم باندې ولاړ تطابق نه د کاراخيستلو په ګډون.

## اغېـزمـن تطبيـق

٨١. موږ پوهېږو چې په نوې ښاري اجنډا کې د يادو شوو ژمنو رښتيا کېدل په ملي او محلي کچو داسې مناسبو پاليسيو ته اړتيا لري چې د ښاري اماکنو د مشارکتي انکشاف په برنامه کولو او مديريت باندې سره يوځای کېږي او د نړيوالو همکاريو او د ظرفيتونو د لوړولو او هڅو په وسيله – د ډېرو ښو لارو چارو، پاليسيو او برنامو د شريکولو په ګډون – د دولتونو په ټولو پوړونو کې بشپړېږي.

٨٢. موږ پر نړيوالو او سيمه‌ييزو موسسو او بنسټونو – د ملګروملتونو د سيستم او د ژوند چاپېريال د څو اړخيزو هوکړو، پراختيايي شريکانو، نړيوالو او څو اړخيزو مالي بنسټونو، سيمه ايزو پراختيايي بانکونو، خصوصي سکتور او نورو همکارانو کوو چې د ښاري او کليوالي پراختيا د کړنلارو او برنامو د همغږۍ ځواکمنولو لپاره او د پايدار ښاريتوب پر خوا د يوشانته لارې د پلي کولو په موخه، له موږ سره همغږي شي.

۸۳. په دې اړه موږ د ملګرو ملتونو د سیستم د همغږۍ په ښه کېدا او د ښاري پایدار انکشاف په برخه کې په یومخیزکېدو باندې د کړنلارې پلان جوړونې، په ټول سیستم کې د پلي کولو او راپور ورکولو په چوکاټ کې، هغسې چې د ۲۰۳۰ مېلادي کال د پایدار انکشاف د اجنډا په ۸۸مه فقره کې راغلي، ټینګارکوو.

۸۴. موږ له دولتونو څخه په کلکه غواړو چې د هر راز اقتصادي، مالي یا سوداګریزو یو طرفه تیاریو له دودولو څخه چې د ملګروملتونو له قوانینو او منشور سره توپیر ولري اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ته د بشپړ لاسرسي، په خاص ډول په مخ پر ودې هېوادونو کې، خنډ وګرځي، ډډه وکړي.

*د اداري جوړښت رامنځته کول: د یوه ملاتړي چارچوب جوړول*

۸۵. موږ د غیر متمرکز کولو او د محلي چارواکو د پیاوړي کولو په اړه په نړیوالو رهنمودونو کې راغلي اصول او کړنلارې بنسټیزو خدمتونو ته د ټولو د لاسرسي په هکله چې د ملګروملتونو د بشري اُسکان برنامې (هبېتات) د اداري شورا له خوا د ۲۰۰۷ مېلادي کال د اپریل په ۲۰مه په ۳/۲۱ پرېکړه، او د ۲۰۰۹ مېلادي کال د اپریل په ۳مه په ۸/۲۲ پرېکړه کې تصویب شوي، تاییدوو.

۸۶. موږ به د پراختیایي ټولنو ستراتېژیو او پلانونو په توګه د ملي او محلي انتظامي او جوړښتي چوکاټونو په ملاتړ د نوي ښاري اجنډا اغېزمن ترسره کول، تثبیت کړو ترڅو په بساینده کچه د مالي شفافو او حساب ورکوونکو مېکانیزمونو سره په اړیکو کې وي.

۸۷. په څو پوړیو کې د مشورې مېکانیزمونو او د وړتیاوو روښانه تعریف، د دولت د هرې سطحې لپاره د وسیلو او سرچینو په ګډون به د ملي او محلي حکومتونو ترمنځ لازیاتو همکاریو ته وده ورکړو.

۸۸. موږ به د موخو او سکټوري پالیسیو چلندونو ترمنځ انسجام، د هغو له شمېره د سیاسي اداري په مختلفو پوړونو او کچو کې د اداري وېشونو د پولو په ټولو اوږدو کې د کلیوالي پراختیا، له ځمکې نه د ګټې پورته کولو مواردو، د خواړو او تغذیې امنیت، د طبیعي سرچینو مدیریت، د عامه خدماتو، اوبو او د صحت ساتنه، روغتیا، د ژوندانه چاپېریال، انرژۍ، کورجوړونې او لېږدرالېږد رامنځ ته کولو پالیسیو او د وظیفوي هغو مناسبو برخو په پام کې ساتلو، د ښارجوړونې د ټولنو لارو چارو د تقویې او د ښاري او محلي پلان جوړونې د کړنلارو پلي کول چې یادې پالیسۍ یې په بر کې نیسي، رامنځ ته کړو.

۸۹. موږ به د ښاري پالیسیو د اغېزمن پلي کولو او د دولتونو د توان د ځواکمنولو لپاره - ځکه چې دوی پالیسي جوړوونکي او پرېکړه کوونکي نهادونه دي - د حقوقي او پالیسي چوکاټونو د رغولو په خاطر، ځینې تیارۍ ونیسو، ترڅو د تابعیت اصل پر بنسټ د مالي، سیاسي او اداري مناسب غیر متمرکز کول رامنځته شي.

۹۰. موږ به په بېلابېلو پوړونو د اداري وېشونو د پولو په ټولو اوږدو کې د محلي وېشونو پر بنسټ، د هېوادونو له ملي قوانینو سره په مطابقت، په تصمیم نیونو کې د ملي او محلي حکومتونو په ګډون او د اړینو صلاحیتونو او منابعو په راغونډولو باندې د ښاري، ښاروالۍ او محلي عمده اندېښنو له مدیریت څخه ملاتړ وکړو. موږ به د ښاروالۍ هغه اداره چې هراړخیزه وي او له پایدارو پورونو د مدیریت په ګډون د مالي اعتماد وړ قانوني چوکاټونو او مېکانیزمونو درلودونکې وي، ترویج کړو. موږ به په ټولو ساحو او د رهبرۍ په ټولو پوړونو کې – د محلي حکومتونو په ګډون - د ښځو د بشپړ او اغېزمن ګډون او د هغو د برابرو حقونو د رواجولو لپاره تدبیرونه ونیسو.

۹۱. موږ به له محلي حکومتونو څخه د هغو د خپلو اداري او مديريتي جوړښتونو په تړاکلو کې، د ملي قوانينو او پاليسيو سره جوخت د محلي اړتياوو سره د انډولۍ لپاره، ملاتړ وکړو. مونږ به د انتظامي مناسبو چوکاټونو رغول تشويق او محلي حکومتونو ته به د بنسټيزو زېربناوو په رغولو او مديريت کې د سيمې خلکو، مدني ټولنو او خصوصي سکتور سره د مشارکت په برخه د بنسټيزو خدمتونو او زېربناوو په رامنځ ته کولو او مديريت کې د دې ډاډ ترلاسه کړو چې عامه ګټې خوندي شوې دي او د حساب ورکونې دقيقې موخې، مسئوليتونه او مېکانيزمونه به په ځرګنده توګه تعريف شي، ملاتړ وکړو.

۹۲. موږ به د عمر او جنس له پلوه ځواب ويونکې مشارکتي تګلارې د ښاري او محلي پاليسۍ جوړونو او پلان رغاونو د بهيرونو په پړاوونو کې، له خيال نه تر طراحۍ، بوديجه اټکلول، پلي کولو، ارزونې او بياکتلو په ټولو مرحلو کې ترويج کړو، چې دا په نويو ډولونو کې د دولتونو په ټولو سطحو سيده مشارکت او د مدني ټولنې ترمنځ– د پراخو ستنو درلودونکو همپشنيو مېکانيزمونو او پلاټفورمونو په ګډون - او ټولو ته د همکاريو او آزادې مشورې لپاره له معلوماتي ټکنالوجۍ او ارتباطاتو او ارقامو ته د لاسرسي د حل له لارو څخه په کار اخيستو کې نغښتې دي.

*د ښاري فضا د پراختيا پلان جوړونه او مديريت*

۹۳. موږ د ښاري او محلي پلان جوړولو په باب په نړيوالو لارښودونو کې هغه راغلي اصول او کړنلارې چې د ملګرو ملتونو د هېښتات د اداري شورا له خوا په ۶/۲۵ پرېکړه د ۲۰۱۵ميلادي کال د اپريل په ۲۳مه[۱۴] تصويب شوه، منو.

۹۴. مونږ به داسې هراړخيزه پلان جوړونه پلي کړو چې موخه يې د لنډمهالو اړتياوو او د يوه سيالي کوونکي اقتصاد د اوږدمهالو مطلوبو پايلو، د ژوند لوړکيفيت او د ژوند پايدار چاپېريال ترمنځ د توازن ساتنه ده. مونږ به زيار وباسو چې په خپلو پلانونو کې د مخ په بدلېدو ټولنيزو – اقتصادي شرايطو سره د تطابق لپاره، انعطاف منل رامنځ ته کړو. مونږ به ياد پلانونه پلي او په سيستماتيکه توګه وارزوو، او په همدې حال د نوې ټکنالوژۍ له نوښتونو څخه د ګټې پورته کولو او د ژوندانه د لا ښه محيط د رغولو لپاره به هڅه وکړو.

۹۵. موږ به د محلي انکشاف له ټولنو، د ځو مرکزونو لرونکو او متوازنو پاليسيو او پلانونو له پلي کولو څخه چې د ښارونو او مېنو په مختلفو کچو کې همکارۍ او متقابل ملاتړ هڅوي؛ د خوارو په امنيت او د تغذي په سيستمونو کې د ښارونو او ورو او منځنيو ښارګوټو نقش تقويه کوي؛ کور، زېربنا او پايدارو خدماتو، د توان په انډول، کافي، کلکو او خوندي خدمتونو ته لاسرسي چمتوکوي؛ د ښاري – کليوالي اتصال له سره تر پايه سوداګريزې اغېزناکې اړيکې آسانوي؛ او د لږو سرمايو کروندګران او کب نيوونکي د اقتصادي زنځيرو او محلي، ملي، سيمه ايزو او نړيوالو بازارونو سره تړي، ملاتړ وکړو. مونږ به له کرکېلې او همداسې د تجارت او محلي بازارونو د ښو او د لاسرسي وړ شبکو له لارې د مسئولانه، محلي او دوام لرونکي توليد او مصرف او له ټولنيزو تعاملاتو څخه د خوړو ثبات او امنيت ته د مرستې لپاره د يوې ګزينې په ډول هم ملاتړ وکړو.

[۱۴] Ibid. اوه لسمه ناسته، ۸ مه بشپړوونکې (A/70/8)، مله .

۹۶. موږ به د ښاري او محلي پايدار پلان جوړونې پلي کول – د سيمه ايزو، ښاري او لويو ښارونو د پلانونو په ګډون – په ښاري ساحو کې د کوښښونو د شريکولو او د تعامل د هڅونې، د ښار او کليو د چارچاپېرو او په ټولو کچو – له پولو نه د وتلو ساحو په ګډون – وهڅوو او د داسې منطقوي پايدارو زېربناوو پروژو ملاتړ به وکړو چې د اقتصادي پايدار توليد د وړتيا قابليت راپاروونکي وي او د ښاري – کليوالي اتصال له سره تر پايه د مناطقو برابره وده زياته کړي. په دې اړه به موږ د ښاري – کليوالي مشارکتونو مېکانيزمونه او د ښاروالیو ترمنځ همکارۍ د اداري وېشونو او ښاري ساحو پر بنسټ د اغېزمنې وسيلې په توګه د ښاروالۍ او لويو ښارونو، د عامه خدمتونو او د محلي او سيمه ايزې پراختيا د ترويج لپاره دود کړو.

۹۷. موږ به د ښاري شوي پلان رغونې خپرول، د ښاري ساحو نوي کولو، بيارغاونې او ښه کېدو ته په لومړيتوب ورکولو سره – د نارسمي او د بېوزلو مېنو په ګډون – په لوړ کيفيت باندې د عامه ودانيو او فضاوو په وړاندې کولو، د اوسېدونکو او اړوندو دست اندرکارانو سره يوځای د ټولنو او پر برخې اخيستو ولاړو لارو چارو ترويج او له درجه بندۍ او ټولنيزې – اقتصادي طبقاتي بېلونې نه مخنيوی او په همدې وخت د فرهنګي مېراث ساتنه او د ښاري پاشلتيا خنډ ګرځېدل، ترويج کړو.

۹۸. موږ به د ښاري او محلي جامع پلان رغونې – له ځمکې او طبيعي زېرمو څخه د برابرې، اغېزمنې او دوام لرونکې استفادې اصولو پر مبنا د ښاري پروګرام شوې پراختيا په ګډون – تراکم، څو مرکزوالي، مناسب تکاثف او اړيکو، او له ښاري فضا نه ګڼو استفادو، همداسې په ودانو شوو ساحو کې د ټولنيزو او اقتصادي بېلابېلو مواردو څخه له ښاري پاشلتيا نه د مخنيوي، د ننګونو او د لېږدرالېږد اړتياوو او د خدمتونو د وړاندې کولو د سرې پر سر لګښتونو د کمولو او د اړتيا له مخې به په مقياس سره يوکول، تراکم او سپما ترويج کړو.

۹۹. موږ به د هغو ښاري پلان جوړونو د کړنلارو له پلي کولو څخه د بنسټيزو خدماتو او د کيفيت لرونکو عامه فضاوو سره چې د استطاعت وړ د کور غوراوی د ټولو لپاره آسانوي، خونديتوب او امنيت ځواکمنوي او د نسلونو ترمنځ ټولنيز تعامل او د تنوع درک کول ممکنوي، ملاتړ وکړو. موښږ به د مناسبې زده‌کړې او له ښاري تاوتريخوالي نه په اغېزمنو ساحو کې د خدماتو وړاندې کوونکو له مسلکي کسانو او ټولنو څخه د ملاتړ د ځايولو پر لور ګامونه اوچت کړو.

۱۰۰. موښږ به د خوندي، د لاسرسي وړ، شنو او کيفيت لرونکو واټونو او نورو عامه فضاوو رغولو ته چې د ټولو لپاره د لاسرسي وړ وي او بې له هر راز جرايمو او تاوتريخوالو – د جنسي ځورونو او په جنسيت باندې ولاړو تاوتريخوالو په ګډون – د انساني مقياسونو او هغو تدبيرونو په پام کې ساتلو چې له ځمکې او واټونو څخه د سوداګرۍ خورا ښه تدبيرونه او امکان رامنځ ته کوي او محلي رسمي او غير رسمي بازارونه او تجارت او همداسې د ټولنې غيرانتفاعي چلندونو ته وده ورکوي، خلک عامه فضاوو ته راولي او پلي تګ او بايسکل چلول د روغتيا او صحت د ښه کېدو په موخه دودوي، ملاتړ وکړو.

۱۰۱. موږ به د آفتونو خطر د کمولو او له اقليمي بدلونونو سره د تطابق، کتنې او تدبيرونه د ښاري او محلي پراختيا او پلان جوړونې د عمر او جنس له اړخه ځواب ويونکي بهيرونه – د ګلخانه يي ګازونو د خپرېدو، د کلکوالي او د اقليمي، خدمتونو او زېربناوو د اغېزمنتوب له مخې د فضاوو، ودانيو او تعميراتو د طراحۍ په ګډون – او پر طبيعت ولاړ د حل لارې چارې به سره يو لاس کړو. موښږ به په سکټورونو کې همکارۍ او همغږۍ ترويج کړو او د عکس العمل او د آفتونو خطر د کمښت پلانونو په پراختيا او پلي کولو کې د

محلي چارواکو کاري ظرفيتونه؛ لکه: په موجودو او راتلونکو عامه تأسيساتو پورې د مربوطو خطرونو څېړل او د کافي احتياطي او د تخليې کړنلارو رامنځته کولو ته پراختيا ورکړو.

١٠٢. موږ به د ښاري پلان جوړونې او طراحۍ ظرفيت د ښه کېدو او په ملي او سيمه ايزه کچه د ښاري پلان جوړوونکو د روزنې لپاره هڅه وکړو.

١٠٣. موږ به د خونديتوب او له جرايمو او تاوتريخوالي څخه د مخنيوي – د ترهګرۍ او د ترهګرۍ شرايطو چمتوکوونکي له تاوتريخوالي ډک افراطيت په ګډون – جامع تدبيرونه يو موټی کړو. نوموړي تدبيرونه به د ښاري کړنلارو او نوښتونو په رامنځ ته کولو کې اړينې محلي ټولنې او غيردولتي دست اندرکاران، همداراز غير رسمي مېنې او د بېوزلو اوسېدنځايونه او د پاليسيو په پراختيا کې د عامه امنيت په اړه او له جرايمو او تاوتريخوالي څخه آسيب مننه او فرهنګي عواملو د مشخصو ډلو له بدنامولو نه مخنيوي او په دې لار کې به مبارزه په پام کې ونيسو.

١٠٤. موږ به د قانوني غوښتنو رعايت د مديريت د هراړخيزو چوکاټونو او هغو حساب ورکوونکو بنسټونو چې د ځمکې له ثبت او ادارې سره تړاو لري؛ د مديريت پلي کولو او له ځمکې نه د شفافې او دوام لرونکې استفادې؛ او د املاکو ثبت او مالي سيستمونو له لوري ترويج کړو. موږ به له محلي حکومتونو او اړوندو دست اندرکارانو څخه د يو لړ مېکانيزمونو په وسيله په پراختيا او کار اخيستو، د ځمکو شتون له لومړنيو معلوماتو؛ لکه: کاډستر، د ارزونې او خطراتو نقشې، د ځمکو او کورونو د بيې سوابق، د اړينو ارقامو د راغونډولو په موخه په لوړکيفيت، پروخت او معتبر – د عوايدو، جنس، عمر، نژاد، قومولي، مهاجرتي وضعيت، معلوليت، د جغرافيې دريځ او نور د هېواد په شرايطو پورې اړوندې ځانګړتياوې – د ځمکې په ارزښت کې د بدلونونو د راسپړنې لپاره او په عين وخت کې له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې نوموړي ارقام به له ځمکې نه په تبعيضي ډول د ګټې اخيستو په پاليسيو کې ونه کارول شي، ملاتړ رامنځ ته کړو.

١٠٥. موږ به د پرمختګ په حال د بساينده کور د حق لاسرسي ته د بشپړ معياري ژوند د حق درلودلو د يوه جزء په حيث وده ورکړو. موږ به د کور پاليسۍ په ټولو کچو باندې رامنځ ته او پلي کړو، او په هغو کې به د ګډونوالۍ پلان رغونې او د «سبسايډې» اصولو پلي کول په مناسب وخت کې په ملي او محلي کچه د ځمکې پاليسيو او کورجوړونې په ستراتېژيو کې له انسجام نه د ډاډه کېدو لپاره ځای کړو.

١٠٦. موږ به د کورجوړونې پاليسۍ د ټولنيزګډون اصولو؛ اقتصادي ګټورتيا او چاپېريال ساتنې پر بنسټ ترويج کړو. موږ به د استطاعت سره جوختو او پايدارو کورونو په جوړولو کې له عامو منابعو څخه – د ښارونو د مرکزي او متراکمو سيمو په ګډون - اغېزمنه ګټه اخيستنه له کافي زېربنا او د مشارکت او ټولنيز انسجام د رواجولو او د عوايدو پراختيا له هڅونې سره، دود کړو.

١٠٧. موږ به د هغو مالي پاليسيو، ابزارو، مېکانيزمونو او موډلونو رامنځ ته کول او پراخول راوهڅوو چې د استطاعت سره جوختو او پايدارو کورونو ډول ډول ګزينې ترويجوي – د کرايې يا د تصرف د نورو ګزينو په ګډون – او همداسې د تعاون حل لارې؛ لکه: په ګډو کورونو کې، د محل د ټولنې په ګډه ځمکه کې سره اوسېدل او نور داسې د ټوليز تصرف ډولونه چې د وګړو او ټولنو زياتېدونکو اړتياوو ته ځواب ويونکې وي، د اوسېدنځايو د لا ښه کېدو په موخه (په خاصه توګه د لږو عايدو درلودونکو ډلو لپاره)؛ له تبعيض، شړلو او اجباري بېځايه کونو څخه د مخنيوي؛ او د بيا مناسب او پتمن مېشت کېدل به تشويق کړو. په




جلال آباد، افغانستان ©UN-Habitat

دې کې به مترقي د کورجوړونې طرحې او په خپل سر د اوسېدنځایونو رغول د غیر رسمي او د بېوزلو هستوګنځایونو او مېنو د ښه کېدو پروګرامونو ته ځانګړې پاملرنه هم شامله وي.

۱۰۸. موږ به د کورجوړونې پالیسیو په رامنځته کولو او انکشاف کې چې د ښوونې او روزنې، کور، روغتیا، له محروموالي او تبعیض څخه مخنیوی د هغو ترمنځ زورورو اړیکو ته د پاملرنې په وسیله د یو لاسو کورونو ډولونو ته وده ورکوي، ملاتړ وکړو. په دې سربېره، موږ ځانونه د بې کورۍ او د هغې جرم ګڼلو په وړاندې مبارزې ته د فعالو، موخه لرونکو او هراړخیزو مشخصو پالیسیو او ستراتېژیو له لارې؛ لکه: د کورجوړونې هراړخیزو، ټولنو او پایدارو برنامو ته ژمن ګڼو.

۱۰۹. موږ به د اړتیا له مخې د لازیاتو مالي او بشري سرچینو د لګولو او ښه کېدو او د امکان په کچه له غیر رسمي او د بېوزلو له مېنو څخه د مخنیوي لپاره له فېزیکي او د ژوند چاپېریال له اصلاحاتو نه لوړو ستراتیژیو څخه د دې ډاډ ترلاسه کولو په موخه چې غیر رسمي مېنې او د بېوزلو اوسېدنځایونه د ښارونو له ټولنیزو، اقتصادي، فرهنګي او سیاسي ابعادو سره یوځای شي، په نظر کې وساتو. دغه ستراتېژۍ باید د پایدار لاسرسي، کافي، خوندي او د مالي توان په کچه برابرو کورونو، اساسي او ټولنیزخدمتونه او خوندي، ټولیز، د لاسرسۍ وړ، شنه او د کیفیت درلودونکي عاموفضاوو د رغولو محتوا ولري او باید د هغو د تصرف او سمون امنیت او همداسي د منځګړیتوب او له شخړو نه د مخنیوي تدبیرونه ونیسي.

۱۱۰. موږ به د نظارت هراړخیزو او شفافو سیستمونو د تعریف او ځواکمنولو لپاره په غیر رسمي مېنو او د بېوزلو په مېشت ځایونو کې د اوسېدونکو وګړو د تناسب کمولو، په غیر رسمي مېنو او د بېوزلو په هستوګنځایونو کې د اوسېدونکو د ژوندانه شرایطو د ښه کېدو لپاره، د مخکینیو لاس ته راغلو تجربو په پام کې نیولو سره، له هڅو څخه ملاتړ وکړو.

۱۱۱. موږ به د کور جوړونې په سکتور کې د کافي او د پلي کولو وړ مقرراتو د رامنځ ته کولو او پراخولو څخه – د ودانولو د کلکوالي کوډونو، له ځمکې نه د استفادې معیارونو، د پراختیا جوازونو، لوایحو او فرمانونو او د پلان جوړونې مقرراتو په ګډون – د ځمکې له غصبولو سره مبارزه او له هغه څخه مخنیوی، بېځایه کېدل، بې کوري او په زورزیاتي ایستل او د ثبات، کیفیت، له مالي شتو سره جوختوالی، روغتیا، خوندیتوب، د لاسرسۍ وړتیا، د انرژۍ او زېرمو له اړخه ګټورتیا او کلکوالی ترویج کړو. موږ به په ملي او محلي کچه د کور د عرضې او تقاضا بدلېدونکی تحلیل په عالي کیفیت لرونکو، پر وخت او معتبرو ارقامو باندې د ټولنیزو، اقتصادي، چاپېریالي او فرهنګي څرګندو ابعادو په پام کې ساتل، هم دود کړو.

۱۱۲. موږ به د پایدار ښاري انکشاف د برنامو له پلي کولو نه چې د کورونو جوړول او د خلکو اړتیاوې د دغې ستراتېژۍ په مرکز کې وي؛ د کورجوړونې پروژو ته لومړیتوب ورکول – له مناسب موقعیت او توزیع سره - د منزوي او حاشیوي له ښاري سیستمه جلا مېنو د رامنځ ته کېدو څخه چې د ټولنیزو او اقتصادي برخو په پام کې نیولو پرته پراختیا مومي له مخنیوي او د لرعاید لرونکو ډلو د کور درلودو اړتیاوو د له منځه وړلو له هڅو نه ملاتړ رامنځ ته کړو.

۱۱۳. موږ به په پلان جوړولو او د لېږدرالېږد او ټرانسپورټ د زېربناوو په طرح کولو د واټونو د خوندیتوب ښه والي او ادغام لپاره ځینې تیارۍ ونیسو. موږ به د خوندي سیستم اقدامات، چې «د واټونو لپاره د عمل

لسیزه» کې تجویز شوي، د عامه پوهاوي له کړنو سره یوځای د ښځو او نجونو، کوچنیانو او ځلمیانو، زړو، معلولانو او زیان منونکو کسانو اړتیاوو ته په ځانګړې پاملرنې – ترویج کړو. موږ به د پالیسیو او تدبیرونو د تصویب، پلي کولو او عمل ته سپارلو او د پلي تګ او بایسکل چلونې خوندیتوب او د مصونوالي ښه کېدو لپاره د روغتیایي پېښو د پایلو په پام کې نیولو سره، په خاصه توګه له خوړمن کېدو او غیر ساري ناروغیو څخه د مخنیوي په موخه کار وکړو او د موټرسایکل د خوندیتوب په هکله د هراړخیزو قوانینو او پالیسیو د رغولو او تطبیق کولو په موخه د نړۍ په کچه او په ځانګړې توګه د مخ پر ودو هیوادونو کې د مړو او ژوبلو د ورځ تر بلې ډېرېدونکو شمېرو ته په کتو، هڅه وکړو. موږ ښوونځیو ته د ټولو ماشومانو له خوندي او سالم تګ راتګ نه د حق په لومړیتوب سره ملاتړ کوو.

۱۱۴. موږ به خوندي، د مالي توان سره سم، د لاسرسي وړ او پایدار د ښاري لېږد رالېږد، ځمکنې او د سیند ټرانسپورټ هغو سیستمونو ته له لاسرسي څخه د عمر او جنس له پلوه د اړتیاوو په پام کې درلودو سره ملاتړ وکړو، چې د ښارونو او مېنو په ټولنیزو او اقتصادي فعالیتونو په ښاري او محلي عامو پلانونو کې د لېږد رالېږد پلانونو د ادغامولو او د ټرانسپورټ او لېږدرالېږد د مختلفو ګزینو د ترویجولو په وسیله، په ځانګړي ډول له لاندنیو مواردو نه په ملاتړ سره معقولې برخې اخیستنې ممکنوي:

*(ا)* د لاسرسي وړ، خوندي، مثمر، د مالي توان په کچه او دوام لرونکي ټرانسپورټ د کتنې وړ زیاتوالی او همدا راز له موټره پرته ګزینو؛ لکه: پلي تګ او بایسکل چلولو ته د موټر لرونکي شخصي ټرانسپورټ په پرتله ترجېح ورکول.

*(ب)* «ګډ ترانزیت ته متمایله پراختیا» چې د ټولو او په ځانګړې توګه د بېوزلو خلکو د بېځایه کېدو د کمښت لامل ګرځي او مشخصه یې د مالي توان سره جوخت له بېلابېلو عوایدو او د مشغولتیاوو او خدمتونو له یوې مخلوطې سره اوسېدنځای دی.

*(ج)* لا ښه او همغږې ټرانسپورټ او له ځمکې نه د استفادې داسې پلانول، چې سفر او ټرانسپورټ ته د اړتیا د کمولو لامل ګرځي، د ښاري، ښار ته څېرمو او کلیوالي ساحو ارتباطات د اوبو لارو او د ټرانسپورټ او لېږدرالېږد پلان جوړونې په ګډون – په خاصه توګه د مخ پر ودې وړو ټاپوګانو د ایالتونو او د سیند څنډې ښارونو لپاره ځواکمنوي.

*(د)* د باروړنې پلان رغونه او لوژستیکي مفاهیم، چې محصولاتو او خدماتو ته یې مثمر لاسرسی ممکن کړی او د هغو اغیزې یې د ژوندانه په چاپېریال او د ښاري ژوند په وړتیاو باندي لږې کړي او په پایداره اقتصادي، هر اړخیزې او پایېدونکې وده کې یې برخه زیاتوي.

۱۱۵. موږ به په ملي او محلي کچه د ګډو مېکانیزمونو او چوکاټونو د پراختیا لپاره د ښاري او لوی ښاري ټرانسپورټ د طرحو د ګټو ارزونې په موخه – په چاپېریال، اقتصاد، ټولنیزه یولاسي، د ژوند کیفیت، د لاسرسي وړتیا، د جادې خوندیتوب، ټولیزه روغتیا او اقلیمي بدلونونو په ګډون - چلند غوره کړو.

۱۱۶. موږ به د دې مېکانیزمونو او چوکاټونو له پراختیا څخه د دوام لرونکي ښاري ټرانسپورټ او لېږدرالېږد پالیسیو پر بنسټ د پرانیستې، شفاف او په ښاري او لوی ښاري ساحو کې د ټرانسپورټ او لېږدرالېږد خدمتونو انتظام – د نوې ټکنالوجۍ په ګډون، چې د لېږدرالېږدو د ګډو خدماتو امکان رامنځ ته کوي

- ملاتړوکړو. موږ به په محلي حکومتونو او د ټرانسپورټ د خدمتونو د وړاندې کوونکو شرکتونو ترمنځ – د ارقامو د مدیریت په ګډون – له شفافو او حساب ورکوونکو قراردادي مناسباتو له پراختیا نه چې د عامه ګټو او د فردي محرمیت ساتونکي دي او متقابل مکلفیتونه ټاکي، ملاتړ وکړو.

۱۱۷. موږ به د ټرانسپورټ او ښاري او محلي پلان جوړونې د ځانګو ترمنځ له ښې همغږۍ څخه په ښاري او محلي کچه د پالیسیو او پلان جوړولو چوکاټونو نه په متقابل درک کولو سره – د ښاري دوام لرونکي ټرانسپورټ او لېږدرالېږد د پلانونو په ګډون – ملاتړ وکړو. موږ به د یادو پلانونو د پلي کولو او اجرا لپاره - د اړینې او دوام موندونکې پوهې او پراختیا په ګډون – له مرکزي او محلي حکومتونو څخه ملاتړ وکړو.

۱۱۸. موږ مرکزي او محلي حکومتونه د پانګونې وسایلو په پراختیا او خپرېدو کې، چې هغوی د زېربناوو او د ټرانسپورټ او لېږدرالېږد سیستمونو ښه کېدو ته برلاسي کوي؛ د مثال په ډول: د ګړندیو ترانزیټ ګړ سیستم، ټرانسپورټي جامع سیستمونه، هوایي سیستمونه او د اوسپنې پټلۍ، او د پلي تګ لورو او د بایسکل چلونې لپاره خوندي، ګټور او کافي زېربناوې او په ټرانسپرټ او ټرانزیټ سیستمونو کې په ټکنالوژۍ باندې ولاړ نوښتونه د ګڼه¬ګوڼې او ککړتیا د کمولو په موخه او په همدې حال د اړیکو د مثمریت د لاسرسۍ وړتیا، صحت او د ژوند کیفیت په لوړولو باندې راهڅوو.

۱۱۹. موږ به د کافي پانګې اچونې په زېربناوو د اوبو، روغتیا ساتنې او صحت لپاره د ساتونکو، د لاسرسي وړ او پایدارو خدمتونو په وړاندې کوونکو سیستمونو کې او د بدرفت اوبو، د جامدو خځلو تنظیمولو، د ښار د بدرفت او تشونې، د هوا د ککړتیا کمونې او د باران اوبو په تنظیم باندې؛ په اوبو پورې د اړوندو آفتونو پر مهال د خوندیتوب د ښه کېدو، د روغتیا ښه کېدل، مصوُنو او د مالي توان سره جوخت د ځښلو اوبو ته د ټولو د برابر لاسرسي رامنځته کول، او همداسې کافي او مساوي حفظ الصحې او روغتیا ته د ټولو لاسرسی، او په پرانیستو فضاوو کې رفع حاجت ختمول – د ښځو او نجونو او آسیب منونکو کسانو اړتیاوو او ساتنې ته د خاصې پاملرنې درلودلو په ګډون – ترویج کړو. موږ به هڅه وکړو چې دغې زېربناوې د اقلیم پر وړاندې کلکې وي او د ښاري او محلي پراختیا د جامعو پلانونو یوه برخه – د کور او لېږدرالېږد په ګډون – جوړکاندې او په برخه واله توګه د لاسرسي وړ - ځرګندو د موضوع، او حساسو د فرهنګ له نظره - منابعو د کارولو، د دوام لرونکو، خلاقانه، ثمر بښونکو لارو چارو په پام کې نیول، پلي شي.

۱۲۰. موږ به د دې لپاره، چې د اوبو او عامې روغتیا خدمتونه د اوبو د سمون د پایدارو سیستمونو د پلي کولو له ظرفیتونو څخه – د ښاري زېربناوو د ساتنې او مراقبت د خدماتو په ګډون – د کاري ظرفیتونو د پراختیا له لارې برخمن شي، د نا برابریو له منځه وړلو په موخه او د خوندي او د مالي توان سره جوخت د ځښلو اوبو ته د ټولو د یوشان لاسرسي په هیله، کار وکړو.

۱۲۱. موږ به د استطاعت او ډاډ وړ عصري انرژۍ خدمتونو ته عامه لاسرسی د انرژۍ د ګټورتیا او پایدارې نوې کېدو وړ انرژۍ د ترویجولو په وسیله او په دې لار کې له محلي هڅو څخه (په ودانیو، زېربناوو او عامه تأسیساتو کې د هغې کارول) په حمایې باندې، او همداسې، که امکان ولري، پر محلي زېربناوو او کوډونو د محلي حکومتونو له مخامخ کنټرول څخه په استفادې په وروستنیو کاروونکو سکتورونو کې؛ لکه: د اوسېدو، سوداګریزې او صنعتي ودانیو، صنایعو، ټرانسپورټ، د بدرفتو اوبو او روغتیا ساتنه، د هغې د جذبولو وده پیاوړې کړو. همدا راز به موږ د ودانیو او انرژۍ په برخه کې، د اړتیاوو په پام کې ساتلو سره د انرژۍ د مثمریت موخو ته د رسېدو لپاره د کوډونو، د ودانولو د چارو معیارونو، د نوي کېدونکو موخو،

د انرژۍ ګټورتيا د ټاکلو تصويب هم راوهڅوو. په همدې توګه به موږ هوشمنو شبکو، د ناحيې په کچه د انرژۍ سيستمونو او د محل د انرژۍ پلانونو د هڅو د لا ښه کېدو لپاره د نوې کېدونکې انرژۍ او د انرژۍ د مثمريت ترمنځ د هڅو راګډولو ته لومړيتوب ورکړو.

۱۲۲. موږ به د خځلو د له منځه وړلو په هکله د غير متمرکزې پرېکړې کولو څخه د خځلو تنظيمولو پايدارو سيستمونو ته د عامه لاسرسي د ښه کېدو لپاره ملاتړ وکړو. مونږ به د ښاري خځلو د تنظيمولو سيستمونو په پانګونه، د خځلو سيلان د ټولنيزو – اقتصادي اغېزو د خطر په کمونه او د محصولاتو د ښې طراحۍ له لارې د بياګرځونې کچې له زياتولو څخه د خځلو توليدوونکو د مسئوليت منلو طرحو له ترويج څخه ملاتړ وکړو.

۱۲۳. موږ د لوږې د له منځه وړلو لپاره د ښاريانو، په ځانګړې ډول بې بضاعته ښاريانو غذايي او تغذي امنيت ځايول په محلي او ښاري پلانګذارۍ کې ترويج کوو. موږ به د مستهلکينو لپاره کافي او د استطاعت وړ غذايي موادو د ذخيرې، انتقال او بازارياب‍ۍ لپاره په ښاري سيمو، د ښار شاوخوا سيمو او کليوالو سيمو کې د پايدار غذايي او زراعتي امنيت د پاليسيو همغږې په دې موخه ترويج کړو چې د غذايي موادو ضايعات کم شي او له غذايي ذبالو بيا بيا استفاده ونشي. موږ به د مثمريت د زياتوالي او ضايعاتو د کموالي لپاره د غذايي موادو پالسيۍ د انرژۍ، اوبو، روغتيا، ټرانسپورټ او زبالو له پاليسيو سره د بذري تخم د ډول تعين، د زيان راوړونکو کيمياوي موادو څخه د استفادې کمول او د نورو پاليسيو له تطبيق سره په ښاري سيمو کې ترويج کړو.

۱۲۴. موږ به د پلانګذارۍ د ابزارو په تصويب کې فرهنګ د اصلي جز په توګه په ښاري پلانونو او راهبردونو کې شامل کړو، په شمول د ماسټر پلان، د ساحاتو د تقسيم بندۍ لارښونې، ساختماني کوډونو، د سواحو د مديريت پاليسيو او د راهبردي انکشاف پاليسي چې متنوع محسوس او غير محسوس فرهنګي ميراثونه او مناظر ساتي او هغوی د ښاري انکشاف د مخبرو بالقوه اثراتو څخه ژغوري.

۱۲۵. موږ د باثباته ښاري انکشاف لپاره د فرهنګي ميراث کارولو ملاتړ کوو، په ګډون او احتساب هڅولو کې د هغه رول په پوهيدو کې مرسته کوو. موږ به د ساختماني ودانيو او ځايونو تخليقي او پايښت کارولو ته د دوی د بيا رغونې له لارې د ارزښت جوړولو لپاره هدف ته وده ورکړو. موږ به د کلتور، کلتوري ميراث په اړه د پوهاوی او خپرولو په برخه کې د خلکو او ځايي ټولنو کې برخه واخلو او د دوديزو رواجونو او دودونو ساتنه وکړو، په شمول د نويو تکنالوژۍ او تخنيکونو کارول شامل دي.

*د تطبيق وسايل*

۱۲۶. پوهېږو چې د نوې ښاري اجنډا تطبيق يوه مساعد محيط او د تطبيق د وسايلو يوه وسيع طيف ته اړتيا لري؛ علم، ټکنالوژۍ او ابتکار ته د لاسرسي په ګډون او د متقابل توافق شرايطو پر مبنا د پوهاوي د نشر ښه والی او همدارنګه د مالي منابعو د ظرفيت لوړول او بسيج د پر مختللو او مخ پر ودې هېوادونو د ژمنې په نظر کې نيولو سره او په نړيواله، منطقوي، ملي او محلي سطحه د نوو او متعارفو سرچينو څخه ګټه اخيستنه او همدارنګه په ټولو برخو کې د دولتونو ترمنځ لکه خصوصي سکتور، مدني ټولنو، د ملګرو ملتونو سيستم، او نورو اړوندو بنسټونو غوره نړيوال مشارکت او همکاري د مساواتو، عدم تبعيض، حسابدهۍ، د بشر حقوقو او همبستګۍ ته احترام، په مبنا په ځانګړې توګه د ډېرو بې بضاعتو او ډېرو زيان منونکو ډلو لپاره دي.



Quito, Ecuador نوي بناري احتجاجي

۱۲۷. موږ د تطبیق د وسایلو په اړه هغه اظهار شوي تعهدات چې د ۲۰۳۰ کال پایدار انکشاف او ادیس ابابا عمل په اجنډا کې ځای شوي، بیا تاییدوو.

۱۲۸. موږ د غړو هېوادونو، محلي چارواکو، لویو ډلو او نورو اړوندو بنسټونو سره په ګډه همکارۍ او همدا راز د ملګرو ملتونو د هبیټاټ، نورو برنامو، او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو له لارې او نور بنسټونه د عملي او پر شواهدو ولاړې لارښونې، د نوې ښاري اجنډا تطبیق او د پایدار انکشاف د موخو ښاري اړخونه هڅوو. موږ د هغو درسونو څخه چې له هبیټاټ۳ څخه مو زده کړي او د هغو لپاره د تیارۍ له بهیره د سیمه ییزو او موضوعي جلساتو په ګډون، ګټه واخلو. موږ په دې برخه کې د نړیوال ښاري کمپاین، د هبیټاټ۳ د ګډونوالو عمومي مجمع او د ځمکې د وسایلو نړیوالې شبکې د مهم سهم ته متوجه یو.

۱۲۹. موږ د ملګرو ملتونو له هبیټاټه غواړو چې د پلانګزارۍ، طراحۍ او پایدار ښاري انکشاف په برخو کې مرکزي او محلي حکومتونو ته د معیاري پوهې د انکشاف او د ظرفیت او وسیلو په تیارولو کې خپل کار ته دوام ورکړي.

۱۳۰. موږ پوهېږو چې پایدار ښاري انکشاف د موجودو ښاري لارښوونو او پالیسیو په لارښوونه کولی شي له جامع مالي چارچوبونو چې په ټولو برخو کې د یوه مساعد محیط له ملاتړه برخمن وي، ګټه پورته کړي. موږ د دې موضوع ارزښت درک کوو چې باید ټول مالي ابزار په کلکه توګه د منسجمې پالیسۍ په چوکاټ او عدم مالي تمرکز په فرایندونو کې ځای شي او دا چې په ټولو برخو کې کافي ظرفیتونو ته انکشاف ورکړل شي.

۱۳۱. موږ د ښار جوړونې په تمویل او د دولت په ټولو برخو کې د مالي مدیریت د ظرفیتونو په پیاوړي کولو کې؛ پایدارې ښاري پراختیا ته د رسېدو لپاره د مشخصو وسیلو او مکانیزمونو د نیولو له لارې، د دې خبرې په پام کې نیولو سره چې هر هېواد د ټولنیز او اقتصادي پراختیا خپل اصلي مسولیت لري، له حساسو تګلارو ملاتړ کوو.

۱۳۲. موږ بومي سرچینې او د ښارجوړونې له ګټو لاسته راغلي عواید او همدارنګه د عامه او خصوصي پانګه اچونو د اغېزو زیاتوالی؛ ښاري پراختیا او اضافي سرچینو ته د ازاد لاسرسي لپاره مالي شرایط د ښه کېدو په موخه بسیج کوو. د دې په نظر کې نیولو سره چې د ټولو هېوادونو لپاره عامه پالیسۍ او له داخلي سرچینو ګټه اخیستل او د هغو بسیج د ملي مالکیت پر اصولو ولاړ د نوې ښاري اجنډا د پلي کولو په شمول د پایدارې ښاري پراختیا لپاره زموږ د ګډو هڅو په محراق کې دي.

۱۳۳. موږ پر دې خبره د پوهېدو تر څنګ چې د خصوصي شرکتونو فعالیت، پانګه اچونه او ابتکارونه د تولید، پرمختګ او د دندو برابرولو له عمده محرکینو څخه دي او خصوصي پانګه اچونه، په ځانګړې توګه مستقیمه بهرنۍ پانګه اچونه له ثابت نړیوال مالي سیستم سره، په پراختیایي فعالیتونو کې د اړینو عناصرو له ډلې دي، له شرکتونو غواړو چې خپل ابتکارات او نو آورۍ د ښاري سیمو د پایدارې پراختیا په لار کې د ګړکېچونو د لرې کولو لپاره پلي کړي.

۱۳۴. موږ به له هغو مناسبو پالیسیو او ظرفیتونو څخه ملاتړ وکړو چې له مخې یې محلي حکومتونه وکولی شي خپل بالقوه عواید؛ مثلا د څو کاره کادسټرونو، مالیاتو، محصول او د محلي خدماتو لګښت له لارې د ملي پالیسیو سره په مطابقت پراخې کړي او په عین حال کې ځان باوري کړي چې میرمنې او نجونې، ماشومان او ځوانان، زاړه، معلولین، بومي خلک، محلي ټولنې او بې بضاعته کورنۍ ورنه اغېزمن نشي.

۱۳۵. موږ به د اړتیاوو، لومړیتوبونو، دندو، مکلفیتونو او امتیازاتو پر مبنا له مرکزي حکومت څخه محلي حکومتونو ته د مالي وجوه د لېږد لپاره مناسب او شفاف سیسټمونه ترویج کړو؛ البته د محلي حکومت لخوا د کافي، پر وخت او د وړاندوینې وړ سرچینو په برابرولو، او د عوایدو په لوړولو او د لګښتونو د مدیریت په برخه کې د دوی کړنو ته په کتو.

۱۳۶. موږ به په محلاتو، د ښار په مرکزونو او د ښاري او کلیوالو سیمو په منځ کې د نابرابرۍ د کمولو په موخه او همدارنګه د محلاتو د جامع او متوازن انکشاف د ترویج لپاره د مالي سرچینو د توضیع د عمودي او افقي نمونو له پراختیا ملاتړ وکړو. په دې برخه کې موږ د لګښتونو اړوندو ارقامو د شفافیت پر ارزښت او فضایي یووالي او برابرۍ د پرمختګ لپاره د وسیلو په توګه د سرچینو تخصیص باندې ټینګار کوو.

۱۳۷. موږ به د ځمکو او ملکیت د ارزښت د لوړوالي د حصول او تقسیم لپاره چې د ښاري پراختیا، زیربنایي پروژو او عامه پانګه اچوونو په پایله کې منځته راځي، تر ټولو غوره تګلارې ترویج کړو. ځینې تدابیر لکه د عوایدو اړوند مالي پالیسۍ کولی شي د اړتیا په وخت کې د هغې د بشپړې خصوصي کېدو او همدارنګه د ځمګو او املاکو د غصب د مخنیوي لپاره پلي کړو. موږ به د مالي او ښاري پلانګزارۍ سیسټمونو او د ځمکې د بازار انتظام په ګډون د ښاري مدیریت وسیلو تر منځ اړیکه پیاوړې کړو. موږ به پر دې د باوري کېدو لپاره کار وکړو چې د په ځمکه پورې تړلې تمویل د ځمکې د ناپایدار مصرف او کارونې سبب نه کېږي.

۱۳۸. موږ به مرکزي او محلي حکومتونو څخه د هغوی د شفافو او حساب ورکوونکو وسیلو د تطبیق، د برسۍ د لګښتونو کنټرول، د پانګه اچونې اړتیا او اغېزې او د قانوني کنټرول سره محلي پروژو او د خلاصو او منصفانه تدارکاتو د میکانیزمونو او داوطلبۍ د فرایندونو څخه په ملاتړ کې د خلکو ګډون او د بودیجې باوري اجرا او همدارنګه د دوستۍ، حساب ورکولو، موثر مدیریت او دولتي املاکو او ځمکو ته د لاسرسۍ د ترویج لپاره د فساد ضد تدابیرو له نیولو د ملي پالیسیو سره سم ملاتړ وکړو.

۱۳۹. موږ به که مناسبه وه د مرکز او ښارونو په سطحه د پایدار پور لپاره له پیاوړي قوانینو او مقرراتو څخه ملاتړ وکړو؛ البته د محلي اعتبار په وسیله په عوایدو او ظرفیتونو او همدارنګه پر پراخو او پایدارو ښاري پورونو متکي. موږ به د ښاري تمویل لکه وجهي پراختیایي صندوقونه یا په سیمه ییز، ملي او محلي کچه پراختیایي بانکونه، د ګډ تمویل میکانیزمونو په شمول چې کولی شي عامه او خصوصي، ملي او نړیوال تمولی تسریح کړي، لپاره د مناسبو منځګړو مالي موسسو په جوړولو باندې غور وکړو. موږ به د خطرونو د کمولو په میکانیزم لکه د څو جانبه پانګه اچونې د تضمین اداره او په عین حال کې د پانګې د مصرف د کمولو د اسعارو د خطرونو پر مدیریت او په پایداره ښاري پراختیا او د هغو په پیاوړي کولو کې د خطرونو د لېږد میکانیزمونو ته د لاسرسي په شمول د خصوصي سکتور او کورنیو د ګډون پر تحریک کار وکړو.

۱۴۰. موږ د تمویل مسکن د مناسبو او استطاعت وړ محصولاتو له انکشاف څخه ملاتړ کوو او د څو جانبه مالي بنسټونو، سیمه ییزو پراختیایي بانکونو او پراختیایي مالي بنسټونو، همکارو موسسو، پور وکوونکو او د خصوصي سکتور له پانګه اچوونکو، کوپراتیفونو، پور ورکوونکو او د کوچنیو پورونو د پراخ طیف ګډون د پرمختللې او استطاعت وړ کور جوړونې ټولو ډولونو ته هڅوو.

۱۴۱. موږ په ملي سطح د زیربناوو د وجهي صندقونو، ښاري خدماتو او محلي ټرانسپورټ باندې د تمویل د سرچینو د ډولونو پر مبنا – له عامه بلاعوض وجوه نه د نورو عامه او خصوصي سکتورونو تر ګډون پورې – د کارکوونکو د همکارۍ، مداخلاتو او حسابدهۍ په نظر کې نیولو سره، هم غور کوو.

۱۴۲. موږ له څو جانبه نړیوالو بنسټونو، سیمه ییزو پراختیایي بانکونو، مالي پراختیایي بنسټونو او همکارو ادارو څخه د مالي ملاتړ په اخیستلو، د نوې ښاري اجنډا د پلي کولو لپاره د برنامو او پروژو خلاقانه مالي میکانیزمونو په ګډون، په ځانګړي ډول پرمختلونکو هېوادونو ، څخه دعوت کوو.

۱۴۳. موږ د څو اړخیز هر اړخ ته د لاسرسي، د شنه اقلیم د وجهي صندوق، د نړیوال چاپېریال ساتنې اسانتیا، د تطابق وجهي صندوق او د اقلیمي پانګه اچونې اړخونو په شمول د پلانونو، پالیسیو، برنامو لپاره د سرچینو په تامین او له اقلیمي بدلونو سره په تطابق کې اقدامات د منل شوو کړنلارو په چوکاټ کې د محلي حکومتونو څخه ملاتړ کوو. موږ له محلي مالي بنسټونو سره د اقلیم اړوند زیربنایي حل لارو د جوړولو او انکشاف لپاره او د تسریع کوونکو مالي وسیلو د پېژندلو لپاره د مناسبو میکانیزمونو جوړولو، د دولت په هره برخه کې مالي ثبات او پور لپاره له موجود ملي چارچوکاټ سره سمه مرسته کوو.

۱۴۴. موږ به په ښارونو او رهایشي سیمو کې اقلیمي زیانونو او افتونو لپاره عملي حل لارې، له بیمې او اتکایي بیمې بنسټونو او په ښاري، لویو ښارونو کې، ساختمانونو او نورو ښاري داراییو زیربناوو کې د نورو پانګه اچوونکو سره همکارۍ او همدا رنګه د محلي نفوس لپاره د سرپناه او د دوی اقتصادي اړتیاوو د پوره کولو لپاره، پلټو او پراختیا ورکوو.

۱۴۵. موږ به د اضافي سرچینو د تسریح او بسیج لپاره رسمي پراختیایي مرستو په ګډون له عامه نړیوال تمویل څخه او له ټولو موجودو منابعو- عامه او خصوصي- د پایدار ښاري او محلي پراختیا ملاتړ وکړو. دا کولی شي د بالقوه پانګه اچوونکو پر وړاندې د زیانونو د کموالي په ګډون وي، په ځانګړې توګه په تر ټولو بېوزلو او زیان منونکو هېوادونو کې چې محدودې داخلي سرچینې لري، مهمه ونډه لري.

۱۴۶. موږ به د شمال – سهیل، سهیل – سهیل او درې اړخیزه سیمه ییز او نړیوال او همدا رنګه محلي، غیر متمرکز او ښار له ښار سره د پایدارې ښاري پراختیا سره د مرستې لپاره، د ظرفیتونو پراختیا او د ښاري حل لارو د تبادلې او په هره برخه او هر کارکوونکي لخوا زده کړه، پراخه کړو.

۱۴۷. موږ د ظرفیت لوړول د یوه څو بعدي روش په توګه چې د کارکوونکو او معتددو بنسټونو په توانایی د دولت په هره برخه کې رسیدګي وکولی شي او فردي، ټولنیز او سازماني کاري ظرفیتونه د طرحرېزی، پلي کولو، پیاوړتیا، مدیریت،نظارت او عامه پالیسیو د ارزیابۍ په موخه د پایدار ښاري انکشاف لپاره یو ځای کوي، ترویج کوو.



هرات، افغانستان ©UN-Habitat

۱۴۸. موږ د مرکزي او محلي حکومتونو د ظرفیت پیاوړتیا، د دولتي انجمنونو په شمول ترویجوو تر څو له مېرمنو او نجونو، ماشومانو او ځوانانو، زړو او معلولینو، بومیانو او محلي ټولنو او هغه چې په زیان منونکي حالت کې دي او همدا رنګه مدني ټولنې، پوهنتون واله او د څېړنو له بنسټونو سره د حکومتوالۍ د فرایندونو په جوړولو کې د اداري یا سازمان په سطح کار وکړي او هغوی د دې وړ وګرځوي څو په اغېزمن ډول د ښاري او محلي پراختیا په اړه برخه واخلي.

۱۴۹. موږ د محلي حکومت له انجمنونو څخه د ظرفیت لوړولو د ترویج کوونکو او برابرونکو په توګه، په انکشافي لومړیتوبونو او پر ښاري پالیسیو باندې په ملي مشاورتونو کې د دوی د ګډون تقویه او درک او له مدني ټولنو، مسلکي کسانو، پوهنتون واله وو، او څېړنیز بنسټونو او د برنامې د پلي کولو لپاره د دوی موجودې شبکو تر څنګه د محلي حکومت سره د دوی مرستې څخه ملاتړ کوو. د ا کار باید د متقابلې زدهکړې، د موضوع اړوند مشارکتونو او له مساعي تشریک لکه په نړیواله، ملي او محلي سطح د ښاروالیو تر منځ همکاري او د کار کوونکو شبکو د جوړولو په شمول او د علم او پالیسۍ ترمنځ اړیکې په روشونو تر سره شي.

۱۵۰. موږ د پوهې په تبادله او پیاوړي کول پر اړتیا د ټېکنالوژۍ او ابتکاراتو په انسجام کې د دوامداره ښاري پرمختیا، د ټکنالوژۍ د تسهیل ګډه مرسته او همغږۍ چې د ادیس ابابا د اجنډا او د ۲۰۳۰ پایدارې پراختیا د اجنډا مطابق پیل شوي، ټینګار کوو.

۱۵۱. موږ د برنامه رېزۍ او مالي مدیریت چې د سازمان په ټولو برخو کې په همغږۍ متکي وي، له محلي حکومت سره د مرستې لپاره د ظرفیت د لوړولو برنامې ترویجوو. له محیط زیست څخه د حساسیت او فساد ضد تدابیرو په شمول چې د حسابدارۍ، تدارکاتو، ګزارش ورکولو د مستقلو فرایندونو شفاف او مستقل نظارت او د محلي اجرااتو تفتیش او نظارت او پر کړنو یې څار، بودیجه سازۍ ته په ځانګړې پام او د لنډ مهال او اوږدمهال اداري او تخنیکي ظرفیتونو د جوړولو پر پایلو مبتني د سن او جنس او ښه والي او د فرایندونو او حسابدارۍ ډیجیټلي کوولو ته په پام.

۱۵۲. موږ له ځمکې څخه د مشروع تمویل د عوایدو او وسیلو څخه د ګټه اخیستنې په برخه کې د ظرفیت لوړولو برنامې ترویجوو. همدا رنګه د پالیسي جوړوونکو لپاره د املاکو د بازار د عملکرد په برخه کې او محلي دولتي چارواکي پر قانوني او اقتصادي اساساتو د تمرکز، د جنس په ګډون د ارزښت حصول، د ځمکې د وېش او حصول د ارزښت لوړول ترویجوو.

۱۵۳. موږ د ښاري پراختیا په فرایندونو، واضح او شفافو پالیسیو جوړولو، اداري او مالي چارچوکاټونه او کړنلارې او همدا رنګه د څو کارکوونکو د ګډون لپاره پلان جوړونه کې د څو دست اندر کارانو د ګډون سیستماتیک کارول ترویجوو.

۱۵۴. موږ د مرستې، مشارکت او داوطلبانه ایتلافونو اقدامات چې موخه یې د نوي ښاري اجنډا د پلي کولو پیاوړي کول او پیلول وي او د محلي بنسټونو، محلي حکومتونو او نورو اړوندو دست اندرکارانو تر منځ د ګډ تولید د شبکو د ترویج په شمول تر ټولو ښې تګلارې او ابتکاري حل لارې را ښیي، درک کوو.

۱۵۵. موږ د مېرمنو او نجونو، ماشومانو او ځوانانو، معلولینو، زړو، بومیانو او محلي ټولنو او همدا رنګه د زیان منونکو کسانو د مهارتونو او وړتیاوو د ظرفیت لوړول ترویجوو. د حکومتولۍ د فرایندونو په جوړولو، په ډیالوګونو کې ګډون، د بشري حقونو ساتنه، ترویج او له تبعیض سره مبارزه، او د ښاري او محلي پراختیا په پرېکړو کې د هغوی اغېزمن ګډون ترویجوو.

۱۵۶. موږ د مالوماتو او د ارتباطاتو د ټېکنالوژۍ اوالکترونیکي حکومتولۍ، د ملي پالیسو انکشاف او ایجاد او همدا رنګه پر ښاریانو متمرکزه ډیجیټالي حکومتولي، له ټېکنالوژیکي ابتکارونو استفاده، د مېرمنو او نجونو، ماشومانو او ځوانانو، معلولینو، زړو، بومیانو او زیان منونکو کسانو په شمول د خلکو ظرفیت لوړول ترویجوو، ترڅو معلوماتي ټکنالوژي او ارتباط د لاسرسي وړ شي، او دوی وکولای شي ښاري مسولیتونه ایجاد او عملي کړي. په مسولیت منونکې حکومتولۍ کې د دوی ګډون پراخ او همدا رنګه د دوی اغېزمنتوب زیات کړي. دغه راز د جغرافیایي-فضایي معلوماتو د سیستم په ګډون له ډیجیټلي پلاټفورمونو او وسیلو ګټه اخیستنه داوړد مهالي او جامع ښاري پراختیا پلانګزارۍ او طراحۍ، د ځمکې اداره او تنظیم او ښاري او د لویو ښارونو خدماتو ته لاسرسی به و هڅول شي.

۱۵۷. موږ به د ټولنیزو، ټکنالوژیکي، ډیجیټالي او پر طبیعت مبني ابتکارونو په ګډون له علومو، څېړنو، او خلاقیتونو، له ښاري او محلي پالیسیو او پلانګزاریو سره د علومو د وصل ټکي او د اطلاعاتو د تبادلې او شریکولو عام شوي مکانیزمونه، د پوهې او تخصص په ګډون د جغرافیایي مسایلو اړوندو شمېرو تحلیل، ټولونه، نشر او معیاري کول، او د محلي ټولنو لخوا په لوړ کیفیت، پر وخت او باوري توګه د عوایدو، جنسیت، سن، نژاد، قوم، د کډوالۍ حالت، معلولیت، جغرافیایي سیمې او نورو مشخصاتو په تفکیک سره به د ملي او محلي شرایطو سره سم ملاتړ وکړو.

۱۵۸. موږ په ملي او محلي سطحه احصایوي شمېرې او ظرفیتونه د پایدارې ښاري پراختیا د پالیسیو او راهبردونو په پلي کولو کې د شوي پرمختګ څخه اغېزمن نظارت او مناسبې پرېکړې او بیا کتنې تقویه کوو. د نوې ښاري اجنډا د پلي کولو، څار او کتنې لپاره را ټولې شوې کړنلارې باید عمدتا د رسمي ملي او نورو مناسبو کلکو، خلاصو او شفافو محلي منابعو او شمېرو پر مبنا وي او د محرومیت حق ته په درناوي او د بشري حقونو د هوکړو او مکلفیتونو سره سم وي. پر خلکو مبتني رهایشي سیمو او ښارونو په اړه د نړیوال تعریف په برخه کې پرمختګ کولی شي د دغه کار ملاتړ وي.

۱۵۹. موږ د شمېرو په راټولولو، نقشه اخیستلو، تحلیل او نشر کې او همدا رنګه پر شواهدو او مدارکو مبتني حکومتولۍ په ترویج، په نړیواله سطحه د پرتلې وړ شمېرو څخه په مرسته اخیستنې، د ګډې زده کړې څخه ګټه اخیستنه او همدا رنګه له سیمې څخه لاسته راغلو شمېرو په مرسته، لکه سرشمېرنې، د کورونو سروې، د نفوس سبت، پر سیمه او نورو اړوندو سرچینو او د سیمې پر خلکو مبتني د نظارت فرایندونه، د عوایدو، سن، جنس، نژاد، قوم، د کډوالۍ حالت، معلولیت، جغرافیایي سیمې او نورو ځانګړنو په تفکیک به د ملي او محلي شرایطو سره سم ملاتړ وکړو.

۱۶۰. موږ د شمېرو برخه اخیستونکي او هغه پلاټفورمونه چې د ګډونوالو خوښېږي، جوړول او ترویج له موجودو ټولنیزو او ټکنالوژیکي وسایلو څخه په ګټه اخیستو د ملي او محلي حکومتونو او زیربطو دست اندر کارانو، د غیر دولتي دست اندر کارانو او خلکو په ګډون، په منځ کې پوهې له لېږد او شریکولو د اغېزمن



New York, USA

ښاري مدیریت او پلانګزارۍ د تقویې، د الکترونیک حکومتولۍ له لارې مثمریت او شفافیت، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ په مرسته تګلارو او جغرافیایي- فضایي اطلاعاتو مدیریت ته به پرمختګ ورکوو.

## څارنـــه او بیـاکتنـــه

۱٦۱. موږ به نوې ښاري اجنډا په ملي او محلي کچه د انسجام په تامین، د پرمختګ به تعقیب، د اثراتو په بررسۍ، د اجنډا د پر وخت پلي کولو پر اطمینان، ښاریانو ته پر حساب ورکوونې او شفافیت به په فراګیر ډول وڅېړو او دوره یي کتنې به پرې وکړو.

۱٦۲. موږ به د نوې ښاري اجنډا داوطبانه، خلاص، فراګیر، سهمګیرانه او شفاف څار او کتنه په څو برخو او د هېواد رهبرۍ ته و هڅوو. په دې برخه کې باید د ملي او محلي حکومتونو ګډون او هغه مرسته چې د ملګرو ملتونو، سیمه ییزو او محلي موسسو، عمده ډولو او ذیربطو دست اندر کارانو سیستم په پام کې ونیول شي. او باید یو مداوم روند د ټولو اړوندو دست اندر کارانو په منځ کې د ګډون په موخه او د ښاري حل لارو او متقابلې پوهې د تبادلې په موخه وي.

۱٦۳. موږ په ټولو برخو کې د نوې ښاري اجنډا په کتنه او څارنه کې د فعال شریک په توګه د محلي حکومتونو ارزښت درک کوو او هغوی د پلي کېدو وړ د څار او کتنې میکانیزمونو په ایجاد د ملي او محلي حکومتونو په څنګ کې د اړوندو انجمنونو او مناسبو پلاټفورمونو په شمول هڅوو. موږ به د هغوی د ظرفیت په لوړولو غور وکړو.

۱٦۴. مونږ پر دې ټینګار کوو چې د نوې ښاري اجنډا څار او کتنه(مرور او پیګیري) باید د ۲۰۳۰ د پایدارې پرمختیا سره اغېزمنه اړیکه ولري تر څو په پلي کولو کې یې همغږي او انسجام تامین شي.

۱٦۵. موږ د ملګرو ملتونو د هبیتات پر نقش او تخصص، د هغوی د وظایفو د لایحې مطابق د ښاري فوکل پاینټ په توګه او پایدارو رهایشي سیمو، د ملګرو ملتونو د سیستم له نورو بنسټونو سره په مرسته، د پایدار انکشاف او پایدارې ښارجوړنې په درک، د افاتو خطر او اقلیمي بدلونونو پر کموالي ټینګار کوو.

۱٦٦. موږ عمومي مجمع ته بلنه ورکوو چې له عمومي منشي وغواړي چې په هرو څلورو کلونو کې یو ځل د نوې ښاري اجنډا د پرمختګ په اړه، د نورو داوطلبانه هېوادونو او اړوندو سیمه ییزو موسساتو او نړیوالو ته ګزارش ورکړي او لومړی دغه ګزارش د عمومي مجمع په دوه اویایمه ناسته کې وړاندې شي.

۱٦۷. په یاد ګزارش کې د نوې ښاري اجنډا د پلي کولو حاصله کمي او کیفي پرمختګ او د ښار جوړونې او رهایشي محلاتو اړوند نړیوال منل شوي اهداف به اماده شي. د ملي او محلي حکوومتونو،د ملګرو ملتونو هبیټاټ او د ملګرو ملتونو د سیستم د نورو اړوندو بنسټونو، اړوندو دست اندر کارانو د فعالیت پر مبنا تحلیل، د نوې ښاري اجنډا او د ملګرو ملتونو د هبیټاټ د اداري شوراګانو ګزارش به جوړ شي. په یاد ګزارش کې به د امکان تر حده د څو جانبه موسسو او روندونو، مدني ټولنو، خصوصي سکتورونو، او محصلینو ونډه ځای پر ځای شي. دغه ګزارش باید د نړیوالې ښاري مجمع په څېر موجودو پلاټفورمونو او فرایندونو چې د ملګرو ملتونو د هبیټاټ لخوا جوړېږي، پر مبنا ولاړ وي. په یاد ګزارش کې باید د تکرار مخه ونیول شي او د ملي او محلي ظرفیتونو او اړتیاو او لومړیتوبونو حالاتو او قوانینو ته ځواب ورکړل شي.

۱۶۸. دغه رپوټ د ملګرو ملتونو د هبيتات سره په همغږۍ او د ملګرو ملتونو د سيستم له نورو اړوندو بنسټونو سره په نيږدې همکارۍ او د ټول دغه سيستم په همغږۍ برابرېږي. دغه ګزارش د اقتصادي او ټولنيزې شورا لخوا عمومي مجمع ته وړاندې کېږي. ګزارش به د لوړې سطحې سياسي مجمع ته د پايدارې پراختيا لپاره چې د عمومي مجمع تر چتر لاندې د انسجام، همغږۍ او همکارۍ روابطو په تامين او د ۲۰۳۰ پايدار انکشاف د اجنډا په پيګيرۍ جوړېږي، هم وړاندې کېږي.

۱۶۹. موږ به د نوې ښاري اجنډا د تطبيق ،ملاتړ او پوهاوي له لارې د بسيج کولو لپاره خپلو هڅو ته د موجودو اقداماتو، لکه د هبيتاټ نړيواله ورځ او د ښارونو نړيوالې ورځې څخه په ګټه اخيستنې ادامه ورکوو او د مدني ټولنې، ښاريانو او اړوندو دست اندرکارانو د بسيج او د هغوی د ملاتړ د حاصلولو لپاره د نوو اقداماتو په ايجاد غور کوو. موږ په پيګيرۍ کې د ګډون دوام او د نوې ښاري اجنډا مرور د محلي حکومتونو له انجمنونو سره چې استازي يې د ملي او محلي حکومتونو په نړيواله مجمع کې ګډون لري، درک کوو.

۱۷۰. موږ د ۱۹۹۶م کال د ډسمبر ۱۶مې ۱۷۷/۵۱ نمبر، د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر ۲۱مې ۲۰۶/۵۶ نمبر او ۲۱۶/۶۷ او ۲۲۶/۶۹ نمبر د مجمع اړوند مصوبې او همدا راز د ۱۹۷۶کال د ډسمبر ۱۶مې ۱۰۹/۳۱ او د ۱۹۷۷ د ډسمبر د ۱۹مې نېټې ۱۶۲/۳۲ نمبر مصوبې يو ځل بيا تاييدوو. موږ په نايروبي کې د ملګرو ملتونو د هبيتاټ مرکزي دفتر د موقيعت ارزښت مکرراً بيانوو.

۱۷۱. موږ د ښارجوړونې او پايدارو هستوګنيزو سيمو د اړيکو د مرکزي شخص په توګه د ملګرو ملتونو په سيستم کې د ملګرو ملتونو د هبيتاټ پر نقش او د ملګرو ملتونو د نورو بنسټونو سره په ګډه د نوې ښاري اجنډا پر تطبيق، تعقيب او مرور ټينګار کوو.

۱۷۲. د نوې ښاري اجنډا په رڼا کې او د ملګرو ملتونو د هبيتاټ د اغېز زياتوالي په موخه له عمومي منشي څخه غواړو چې په يوه اويايمه ناسته کې، د ملګرو ملتونو د هبيتاټ مستقله او پر اسنادو ولاړه څېړنه عمومي مجمع ته وړاندې کړي. د څېړنې پايلې به د يوه رپوټ په بڼه وي چې د ملګرو ملتونو د هبيتاټ د اغېزمنوالي، ګټې، حسابدهۍ او نظارت د پياوړتيا لپاره به پکې وړانديزونه شامل وي. په دې اړه بايد لاندې موارد تحليل شي:

*(أ)* د ملګرو ملتونو د هبيتاټ د وظايفو معياري او عملياتي لايحه.

*(ب)* د ملګرو ملتونو د هبيتاټ اداري جوړښت؛ د ګټورې، حسابده او شفافې پريکړې لپاره، د هغې د اداري شورای د غړيتوب ټولنيز کولو په شمول د بديلو لارو په نظر کې نيول.

*(ج)* د بشپړې همکارۍ او مرستې په موخه له ملي او محلي حکومتونو او اړوندو همکارانو سره د ملګرو ملتونو د هبيتاټ اداري ګډ کار.

*(د)* د ملګرو ملتونو د هبيتات مالي وړتيا (توانايي).

۱۷۳. موږ پرېکړه کړې چې د یو اوېایمې ناستې په جریان کې د عمومي غونډې (اسامبلۍ) د رییس په واسطه یوه دوه ورځنۍ غونډه ترسره کړو؛ ترڅو د نوې ښاري اجنډا په اغېزمن تطبیق او د ملګرو ملتونو د هبیتاټ پر دریځ بحث وشي. په دې جلسه کې به په تر ټولو غوره تګلارو، د بریا پر رپوټونو او په رپوټونو کې پر مندرجو تدابیرو خبرې وشي. د جلسې له لنډیز څخه به په دوه اوېایمه ناسته کې پر هغو اقداماتو د غور لپاره چې باید د مندرجو وړاندیزونو په رڼا کې د اجندا د اړوندو اقلامو لپاره د هغه په کلنۍ مصوبه کې په یوه مستقله څېړنه کې ګټه واخیستل شي.

۱۷۴. موږ عمومي اسامبلۍ هڅووتر څو سیاسي ژمنو ته په پام، او د څېړنې او پرمختګ د ساتلو لپاره د نوې ښاري اجندا په برخه کې، د ملګرو ملتونو د راتلونکي کنفرانس په دایرولو او د ښاري پایدارې پراختیا (هبیتات ۴) باندې په ۲۰۳۶ کال کې غور وکړي.

۱۷۵. موږ له عمومي منشي څخه غوښتنه کوو چې په خپل څلور کلن راپور کې چې په ۲۰۲۶ کال کې د پورته بیان شوې ۱٦٦ فقرې په تعقیب به وړاندې کېږي، سره سم د نوې ښاري اجنډا د تصویبه راپدېخوا ترلاسه شوی پرمختګ او د دغه اجنډا د پلي کولو پرمهال پېښېدونکې ننګونې وڅېړي او بیان یې کړي او د حل‌لارو په موخه سپارښتنې وړاندې کړي.

# منته او کور ودانی

## منـنــه او کـور ودانـــی

نوي ښاري اجندا د مختلفو هېوادونو، سيمو او ښارونو د ګڼ شمېر بنسټونو او افرادو او د مختلفو ټاکنيزو حوزو د همکارانو د مرستې او هڅو په پايله کې تشکيل او ومنل شوه چې دا بنسټونه (سازمانونه) او افراد د ملي، سيمه ييزو، او محلي حکومتونو استازيتوب کوي.
په دې برخه کې ځانګړې منته او کورودانی کوو له:

د اکواډور د جمهوريت له جمهور رئيس، رفايل کوريا او د همدې هېواد له خلکو څخه د دوی د مېلمه پالنې او د هبيتات د درېيم کنفرانس او دوامداره ښاري پراختيا د ژمنو له امله د زړه له کومې منته کوو؛
همداراز، په نيويارک کې په ملګرو ملتونو کې د اکواډور د جمهوريت له دايمې استازو او د دايمي استازو له مرستيالانو څخه (چې نومونه يې لاندې ليکل شوي دي) ځانګړې منته کوو چې د کنفرانس د چمتووالي بهير او د کنفرانس په تدوير کې يې مرسته کړې ده:

زاوير لسو ميندوزه Xavier Lasso Mendoza
ډيګو موريجون پزمينو Diego Morejón Pazmiño
هوراکيو سيويلا بورجه Horacio Sevilla Borja
هيلينا يانيز لوزه Helena Yáñez Loza;

د کويټو له ښاروال، ماوريسيو روداس (Mauricio Rodas)، او د کويټو د ښار او اوسيدونکو څخه د هبيتات د درېيم کنفرانس د کوربه‌توب او ملاتړ له امله او همداراز په ورين تندي د ۳۰۰۰۰ څخه زياتو ګډونوالو ته د هرکلي له امله منته کوو.

د چمتووالي کمېټې د ادارې له ليدلوري او نه ستړې کېدونکو هڅو او مرستو څخه چې د هبيتات د درېيم کنفرانس د نوښتګرې (ابتکاري) او مشارکتي پروسې لارښوونه يې کوله منته کوو په ځانګړې توګه د چمتووالي کمېټې د ادارې له مرستيالانو څخه (چې لاندې يې يادونه شوې ده) منته کوو:

ديګو اوليسټيا (اکواډور) Diego Aulestia (Ecuador)
ماريا دې لوس انجليس دوارتې[15] (اکواډور) María de los Ángeles Duarte (Ecuador)
ماريسي ګواتير (فرانسه) Maryse Gautier (France);

همدا راز د چمتووالي کمېټې د ادارې له نورو غړو څخه (چې لاندې يې يادونه شوې ده) منته کوو:

ايريک ميانګر (چاد) Eric Miangar (Chad)
بارباره ريچرډز (چلي) Bárbara Richards (Chile)
جيمي سېلوا[16] (چيلي) Jaime Silva (Chile)

[15] د ۲۰۱۵ کال د اپرېل د مياشتې په ۱۴مه نېټه د ډيګو اوليسټيا (اکوادور) د ځای ناستي په توګه د درېيم هبيتات د چمتووالي (تياري) کميټې د دويمې ناستې په لومړۍ هر اړخيزه‌غونډه کې وټاکل شوه.

[16] د ۲۰۱۵ کال د اپرې د مياشتې په ۱۴مه نېټه د بارباره ريچرډز (چيلي) د ځای ناستي په توګه د درېيم هبيتات د چمتووالي (تياري) کميټې د دويمې ناستې په لومړۍ هر اړخيزه‌غونډه کې وټاکل شو.

ډانييله گربموليرو وه (د چکسلواکيا جمهوريت) Daniela Grabmüllerová (Czech Republic)
تانيا ريوديگار – ووروېرک (جرمني) Tania Roediger-Vorwerk (Germany)
سبا کوروسي (هنگري) Csaba Korosi (Hungary)
پرنومو ای. چندارا (اندونيزيا) Purnomo A. Chandra (Indonesia)
ممدوو امبودج (سنيگال) (همداراز رپوټچي په توکه ټاکل شوی) Mamadou Mbodj (Senegal) (also) designated as Rapporteur
ايلينا سزولگايووا[17] (سلوواکيا) Elena Szolgayova (Slovakia)
مجيد حسن - السويدي (متحده عربي امارت) Majid Hasan Al-Suwaidi (United Arab Emirates);

د نوې ښاري اجنډا د غير رسمی بين الحکومتي خبرو اترو د گډو تسهيلوونکو، لورډيس اورتيز ياپارراگويری (Lourdes Ortiz Yparraguirre )، په ملگرو ملتونو کې د فيليپين جمهوريت دايمي استازي، او جوون جوس گومز کمه کو، په ملگرو ملتونو کې د مکسيکو د جمهوريت دايمي استازي او د هغه استازی ډاماسو لونا کورونا څخه مننه کوو چې ژمنو او قربانيو يې په کوښتو کې د هبيتات دريم کنفراس څخه مخکې د نوې ښاري اجنډا هوکړه (توافق) شونې کړه.

له ټولو غړو هېوادونو او د بين الدولتي بنسټونو (سازمانونو) استازو څخه مننه کوو چې د نوي ښاري اجنډا په خبرو اترو کې يې گډون وکړ، په ځانگړې توگه له هغو کسانو څخه مننه کوو چې د عمومي اسمبلۍ دويمې کميټې په کار کې ښکيل وو؛

د اندونيزيا جمهوريت د دولت او د سورابايا له خلکو څخه د دريم هبيتات د چمتووالي کمېټې د دريمې ناستې د کوربتوب له امله مننه کوو؛

د دريم هبيتات د سيمه ييزو او موضوعي غونډو کوربنو څخه مننه کوو چې د نوې ښاري اجندا د رسمي معلوماتو د يوې برخې په توگه يې اعلاميې ومنلې. سيمه ييزې غونډې د جاکارتا (اندونيزيا)، پراگ (چک جمهوريت)، ابوجا (نايجيريا)، او تولوکا (ميکسيکو) په کوربتوب ترسره شوې. او موضوعي غونډې د تله بيب (اسراييل)، مونټريال (کاناډا)، کوينکا (اکواډور)، ابو ظبی (متحده عرب اماراتو)، مکسيکو ښار (مکسيکو)، بارسلونا (اسپانيا)، او پريتوريا (جنوبي افريقا) په کوربه‌توب ترسره شوې؛

د دريم هبيتات د پاليسۍ د واحدونو د رهبرۍ د همکارو سازمانونو او همداراز د پاليسۍ د واحدونو له ۲۰۰ متخصصينو څخه مننه کوو چې د پاليسيو د ۱۰ مقالو له لارې چې په پايله کې يې د ځانگړو موضوعگانو په اړه د پاليسۍ کليدي سپارښتنې ترلاسه شوې خپله پوهه او تجربې شريکې کړي چې له دې موضوعگانو څخه په نوې ښاري اجنډا کې د تشکيلوونکي برخې په توگه گټه پورته شوې ده.

د ټولې پروسې په ترڅ کې د همکارانو د ۱٦ تشکيلوونکو ډلو څخه د نظريو او ليدلورو د راټولولو له امله د همکارانو د عمومي اسمبلۍ د ټولو غړو له رضاکارانه هڅو څخه مننه کوو، په ځانگړې توگه د اجرائيه کمېټې له ۳۴ غړو څخه چې د نوې ښاري اجنډا د هرې نسخې او بلاخره وروستۍ نسخې لپاره يې د ميليونونو خلکو نظرونه او لومړيتوبونه تر موږ راورسول.

---

17 د ۲۰۱۵ کال د اپرېل د مياشتې په ۱۴مه نېټه سي سبا کوروسي (هنگري) د ځای ناستي په توگه د دريم هبيتات د چمتووالي (تياري) کميټې د دويمې ناستې په لومړۍ هر اړخيزهغونډه کې وټاکل شوه.

د محلي او سيمه ييزو حکومتونو لپاره د نړيوال کاري ځواک څخه مننه کوو چې د نوي ښاري اجنډا په مشورتي پروسه کې يې د سيمه ييزو او محلي حکومتونو د بيلابيلو او حياتي رولونو په پيژندلو او د ښاري سيمو د بدلون په برخه کې د ځايي چارواکو په هڅولو کې مهم رول لوبولی دی؛

د دريېيم هبيتات د پروسې د ملاتړ له امله د ملگرو ملتونو له سېستم څخه په ځانگړې توگه د دريېيم هبيتات په اړه د ملگرو ملتونو د کاري ډلې څخه مننه کوو چې د نوي ښاري اجنډا د نسخو په اړه يې خپل نظرونه او تبصرې له موږ سره شريکې کړې دي او د موضوعگانو د **۲۲** مقالو له لارې يې خپله مرسته ترسره کړې ده؛

د ملگرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ د کنفرانس د مديريت، د خونديتوب او امنيت، او د عمومي معلوماتو له څانگې او د حقوقي چارو له دفتر څخه د غونډو لړۍ او د کنفرانس په بهير کې د هر ډول تخنيکي او عملي مرستو د چمتو کولو له امله مننه کوو، او په پای کې؛

د پورته يادو کسانو او نورو ډېرو هغو کسانو چې نومونه يې دلته نه دي اخيستل شوي له مرستو او هڅو مننه کوو چې د دې گډ ليدلوري جوړونه او تشکيل يې شونی کړ. د ټولو ښاريانو، حکومتونو او شريکانو فعاله ونډه (ښکيلتيا) به د نوې ښاري اجنډا د پلي کولو او د هغې د اصولو د پيژندلو په برخه کې ډېر اړين او ضروري وي.

H III

HABITAT III

QUITO 17-20 OCTOBER 2016

United Nations Conference on Housing and Sustainable Urban Development

United Nations

**www.habitat3.org**

#NewUrbanAgenda #Habitat3